# صوبائی اسمبلی خیبر پختونخوا

## مباحثات


بروز پیر مورخہ 22 دسمبر 1997

(بمطابق 21 شعبان 1418 ہجری)

جلد 9 شمارہ 7


سرکاری رپورٹ

مندرجات صفحہ نمبر


| | |
|---|---|
| 1۔ تلاوت کلام پاک اور اس کا ترجمہ | 1 |
| 2۔ نشانزدہ سوالات اور ان کے جوابات | 6 |
| 3۔ تحاریک التوا | 68 |
| 4۔ تحاریک التوا | 79 |
| 5۔ توجہ دلاؤ نوٹس | 90 |

# صوبائی اسمبلی شمال مغربی سرحدی صوبہ

اسمبلی کا اجلاس، اسمبلی چیمبر پشاور میں بروز پیر مورخہ 22 دسمبر 1997 بمطابق 21 شعبان 1418ھ صبح دس بجکر اٹھائیس منٹ پر منعقد ہوا۔

جناب سپیکر ہدایت اللہ خان چمکنی مسند صدارت پر متمکن ہوئے۔

## تلاوت کلام پاک اور اس کا ترجمہ

اعوذ باالله من الشیطن الرجیم ہ بسم الله الرحمن الرحیم ہ

فَمَآ اُوْتِیْتُمْ مِّنْ شَیْءٍ فَمَتَاعُ الْحَیٰوةِ الدُّنْیَا وَمَا عِنْدَ اللّٰهِ خَیْرٌ وَّاَبْقٰی لِلَّذِیْنَ اٰمَنُوْا وَعَلٰی رَبِّهِمْ یَتَوَكَّلُوْنَ ہ وَالَّذِیْنَ یَجْتَنِبُوْنَ كَبٰٓئِرَ الْاِثْمِ وَالْفَوَاحِشَ وَاِذَا مَا غَضِبُوْا هُمْ یَغْفِرُوْنَ ہ وَالَّذِیْنَ اسْتَجَابُوْا لِرَبِّهِمْ وَاَقَامُوا الصَّلٰوةَ وَاَمْرُهُمْ شُوْرٰی بَیْنَهُمْ وَمِمَّا رَزَقْنٰهُمْ یُنْفِقُوْنَ ہ وَالَّذِیْنَ اِذَآ اَصَابَهُمُ الْبَغْیُ هُمْ یَنْتَصِرُوْنَ ہ

ترجمہ ۔ جو کچھ بھی تم لوگوں کو دیا گیا ہے وہ محض دنیا کی چند روزہ زندگی کا سروسامان ہے اور جو کچھ اللہ کے ہاں ہے وہ بہتر بھی ہے اور پائیدار بھی، وہ ان لوگوں کے لئے ہے جو ایمان لائے ہیں اور اپنے رب پر بھروسہ کرتے ہیں ۔ جو بڑے بڑے گناہوں اور بے حیائی کے کاموں سے پرہیز کرتے ہیں اور اگر غصہ آجائے تو درگزر کرجاتے ہیں۔ جو اپنے رب کا حکم مانتے ہیں، نماز قائم کرتے ہیں اپنے معاملات آپس کے مشورے سے چلاتے ہیں ہم نے جو کچھ بھی رزق انہیں دیا ہے اس میں سے خرچ کرتے ہیں اور جب ان پر زیادتی کی جاتی ہے تو اس کا مقابلہ کرتے ہیں۔ ( سورہ شوریٰ آیت 39--36 )

جناب محمد کریم بابک: پوائنٹ آف آرڈر! ډیره شکریه سپیکرصاحب ، ستاسو په وساطت باندے وزیرموصوف صاحب ته خبره کومه چه د ایوب په وخت کښ به سپړے کیده او هغه وخت نه پس دیخوا سپړے نشته - اوس خوموږه بونیر ضلع ته چه ګوره راخی ---------

جناب سپیکر: تاسو فیلډ مارشل ایوب یادونی ،سابقه صدر یا دونی-----

جناب محمد کریم بابک ، او جی ، فیلډ مارشل صدرایوب یادوم - د هغوی وخت نه دیخوا سپړے نشته خو لکه اوس هم هغه 17 روپئی د سپړے ټیکس اخلی- نو په بل خائے کښ ماته پته نشته خو په بونیر کښ اخلی چه دا په کومه وجه باندے اغستے کیږی - د دے خو هیڅ جواز نشته ، نو مهربانی دِ اوکړے شی چه د دے څه بندوبست اوشی-

جناب احمد حسن خان، جناب سپیکر! ربښتیا خبره دا ده چه که زه لږ مخکښ راغلے وے نو ما به د بی بی نه ستاسو په چیمبر کښ تپوس کړے وے او خما دا یقین دے چه صورتحال داسے نه دے- دا خبر په حقیقت باندے مبنی نه ده خو د دے خبر نه په اپوزیشن بینچز کښ بالخصوص اور عام طور باندے بالعموم یو تشویش خور شوے دے - ستاسو نه وروستو او په ټولو وزراء کرام کښ چه بشیر بلور صاحب بطور وزیر قانون و پارلیمانی امورخموږ سره څنګه ورکنګ ریلیشن شپ په ښه طریقه باندے ساتی نو په هغے باندے موږه څو څو ځله خبره کړے ده خما دا یقین دے چه دے اخبار کوم خبر ورکړے دے- دا په حقائقو باندے مبنی نه دے او که چرے داسے څه حقیقت وی نو هم زه به ستاسو په وساطت سره بی بی ته درخواست اوکړم چه په دے صورتحال کښ هغه په دے باندے مجبور کړی چه هغه خپله استعفٰی

واپس واخلی خکه چه په دے وخت مونږ ته د هغوی موجودګی بطور وزیر قانون، اپوزیشن ته بالخصوص دا خمونږه ضرورت دے جناب سپیکرصاحب خما دا درخواست، خما یقین دے که په حقیقت باندے مبنی نه وی نو بیا اخبار والا دوستانو ته درخواست کوم خکه چه هغه ورځے په بعضِ اخبارات کښ خمونږه د ورور فرید طوفان خان په حواله سره څه خبرے راغلے وے او هغه Categorically ستاسو په چیمبر کښ ماته تسلی راکړه چه څه داسے قسم خبره نشته ، هغه د یو ذمه وار فرد په حیثیت سره نه کړی دی اونه ئے کولے شی ۔ نو زه به بیا که دا په حقیقت مبنی نه وی نوستاسو په وساطت سره به بیا د اخبار سره تعلق لرونکو دوستانو ته دا درخواست اوکړم چه خبردے د سیاق و سباق سره برابر ورکوی چه په قوم کښ بے چینی نه پیدا کیږی خکه چه په قوم کښ Already یو تکلیف ده صورتحال روان دے اود دے خبرونه دا تکلیف نور هم زیاتیږی ۔ ډیره مهربانی مسټرسپیکر۔

جناب پیر محمد خان ، جناب سپیکر ، د دے خبرے اهمیت خو خکه شته ۔ یو دا اخبارونه چه دی نود دے مثال خود خوردبین وی ، هغه جراثیم چه پکښ ګوری ، که دوی چرته څه داسے جراثیم لیدلی وی نو څنګه چه احمد حسن خان اوفرمانیل نو زه به هم بی بی ته خواست اوکړم چه بلورصاحب یقیناً چه خمونږه ډیرخیال ساتی ، د ټولو ممبرانو ساتی او مونږ د دوی دفترته چه کله تلی یو نو ډیر زیات احترام اوعزت ئے خمونږه ساتلے دے۔ مونږه په دے وجه باندے خواست کوو چه که دوی داسے کړی هم وی نود دوی استعفیٰ دِ واپس کړے شی۔

جناب سپیکر : جی همایون سیف الله خان صاحب ۔

جناب ہمایون سیف اللہ خان ، دا خو ھډو پکار نه ده- مونږ به د چا سره نوک جهونک کوؤ، داسے خو به جی ټوله قصه ختمه شی دا خو ھډو پکار نه ده ، دا شپږ، اته کسان ناست یو جی څه دومره گپ مو جوړ کړے وی -زه به پخپله Request اوکړم ،نن به پسے جی ننواتے لاړ شم پخپله - مهربانی جی -

جناب سپیکر: جی بی بی -

بیگم نسیم ولی خان ، محترم سپیکرصاحب، ډیره مننه چه تاسو ماله اجازت راکړو چه زه وضاحت اوکړم - زه خپل د اسمبلئی ټولو ورونړو ته چه دلته ما سره ناست دی خما ملگری دی یو خبره ورته کوم - بشیر بلور چه دے نو دے د یو Disciplined پارټئی یو Disciplined غړے دے او د وزارتونو فیصلے ، وزارتونو کښ ننوتل او د وزارتونو نه استعفٰی ورکول چه دے نو دا د افرادو کار نه دے- دا د پارټئی کار دے - پارټئی لا داسے هیڅ قسم فیصله نه ده کړے او یوه بله تسلی هم ورکوم ټول هاؤس له چه بشیر بلور به چرے هم یوازے استعفٰی نه ورکوی او نه به فرید یوازے استعفٰی ورکوی نه به هاشم خان ورکوی - چه کله مونږه په اجتماعی توگه باندے کینو او یوه فیصله اوکړو چه د حکومت نه اُوځو نو بیا به خمونږ ټول وزیران په یوځائے استعفٰی ورکوی نو دا ورله تسلی ورکوم چه فی الحال داسے هیڅ خبره نشته او که خبره وی نو زه به ئے تاسوته په اسمبلئی کښ واضحه کیږدم او زه به تاسو منصفان کړم چه تاسو منصفان شئی او ما ته اووایئی چه خما دے سړو استعفٰی ورکړه- حقه ئے کړے ده که ناحقه ئے کړے ده ؟ ډیره مهربانی -

جناب احمد حسن خان ، جناب سپیکر! د داسے حالاتو راتلو په مستقبل قریب

کښې څه امکان شته ؟

جناب سپیکر: دا ستاسو د ضمني سوالونو نه ګورې بهر خلق ټول تنګ دي - واني چه دوي دومره ضمني سوالونه کوي چه د هغې هډو څه اختتام نه وي-

بیگم نسیم ولی خان ، د احمد حسن خان د سوال په جواب کښې دا وایم چه د غیبو علم خو یو خدائے ته دے - د سبا حال چا ته نه دے معلوم د نن حال ورته زه وایم د سبا نه نه یو خبر-

جناب فتح محمد خان (وزیرجنگلات) ، سپیکرصاحب، دا خبرے ټولے چه کوم دی نو دا خمونږه دا ورونړه په هسے خوش فهمئی کښې مبتلا کیږي او دا سے چرے نه شي کیدے چه خمونږه او د بي بي صاحبے په مینځ کښې اختلاف راشي- خمونږه دا مشره ده جي او چه دا څه واني نو مونږه هر څه د دے منو او منظور دی مونږ ته - نو خمونږه څه داسے خبره په مینځ کښې نشته او دا هسے د دوي خوش فهمي ده چه یره که داسے اوشي او چه یو فریق مونږ ته راشي او مونږه په هغے فریق باندے خپل دغه اوکړو نو داسے به نه شي کیدے د دوي خبره مونږه منو-

جناب احمد حسن خان ، مونږه خو په دواړو خوشحاله یو که داسے بحال پاتے شي نو هم ښه ده او که داسے دا بل شان اوشي نو ډیر زیات به خوشحاله شو-

جناب نجم الدین ، جناب سپیکر، دے منسټرصاحب خبره اوکړه نو مونږه چرے هم دا نه وایو چه د دغے نه دِ یو فریق دلته کښې راشي خو دا اندازه داسے روانه ده چه که نن دے او که سبا دے خو واني چه " دا مال د زرغون شاه دے " (قہقہے) یو فریق دیخوا راروان دے انشا الله تعالی-

# نشانزده سوالات اور ان کے جوابات

**Mr. Speaker:** Honourable Pir Muhammad Khan, MPA, to please ask his Question No. 269.

جناب محمد کریم بابک ، سپیکرصاحب! زه په هغه خپله خبره باندے خو هیڅ پوهه نه شوم ،ماته خو چا وضاحت او نه کړو ۔

جناب سپیکر، د پوائنټ آف آرډر جواب به اوس تاسو له څنګه ۔۔۔ فرید خان تاسو څه خبره اوکړئی ۔

جناب فرید خان طوفان ( وزیربلدیات ) ، جناب هغه خو دوی اوفرمائیل چه وزیر موصوف، نو څما دا خیال وو چه هغه موصوف به اوس راځی او بیا بهغه جواب ورکوی (قہقہے) جناب سپیکرصاحب، دا کومه د سپړے خبره چه څمونږه محترم کریم بابک صاحب اوکړه نو څما په علم کښ خو دا دی چه سپړے کیږی ځائے په ځائے خو نن چه د اسمبلئی کارروائی‌ختمه شی نو زه به خپل ډیپارټمنټ ته که په بونیرکښ څه داسے مشکل وی او دوی ته څه تکلیف د هغے نه وی ، دوی خو د ایوب خان د وختو خبره اوکړه چه په هغه وخت کښ کیده او د هغے نه پس هډو شوے نه ده۔ نو زه به پته اوکړم چه ایوب خان د وخت نه پس خو ډیر حکومتونه تیر شوے دی چه په کوم حکومت کښ نه ده شوے او بیا چا کړے دے او اوس ولے نه کیږی ؟ او به کړو ورته۔

جناب محمد کریم بابک ، مهربانی سر

جناب سپیکر، ټهیک شوه جی ، پیر محمد خان ایم-پی-اے، پلیز ،

*269۔ جناب پیر محمد خان، کیا وزیر منصوبہ بندی ' ماحولیات وترقیات از راہ کرم ارشاد فرمائیں گے کہ:۔

(ا) آیا یہ درست ہے کہ اس وقت صوبہ سرحد میں بے شمار پراجیکٹس پی ای اینڈ ڈی کے تحت چل رہے ہیں؟

(ب) آیا یہ بھی درست ہے کہ پراجیکٹ کے لئے محکمہ پی ای اینڈ دی گریڈ بیس تک بھرتیاں ڈائریکٹ کرتا ہے ؟۔

(ج) آیا یہ بھی درست ہے کہ مذکورہ پراجیکٹ کے فنڈ کا ۹۸ فیصد حصہ بڑی بڑی تنخواہوں اور بڑی گاڑیوں پر خرچ ہوتا ہے؟۔

(د) اگر (الف) تا (د) کے جوابات اثبات میں ہوں تو (ا)۔۔ اس وقت صوبہ میں مختلف قسم کے کل کتنے پراجیکٹس چل رہے ہیں ؟۔ ہر پراجیکٹ میں ملازمین کی تعداد ' نام ' ولدیت ،سکونت ، تعلیمی قابلیت اور تنخواہ کی مکمل تفصیل فراہم کی جائے ؟

(ii) ۔مذکورہ پراجیکٹس میں موجودہ گاڑیوں کے سالانہ خرچہ کی مکمل تفصیل بھی فراہم کی جائے ۔

سردار مہتاب احمد خان (وزیر اعلیٰ) جواب۔

(ا) جی ہاں ! یہ درست ہے اس وقت محکمہ منصوبہ بندی ماحولیات اور ترقیات کے زیر انتظام اس کے ذیلی دفاتر میں مندرجہ زیل پراجیکٹس چل رہے ہیں

(ا) سپیشل ڈیویلپمنٹ یونٹ ۔

(ا) چترال ایریا ڈیویلپمنٹ پراجیکٹ

(۲)۔۔۔دیر ڈسٹرکٹ ڈیویلپمنٹ پراجیکٹ

(۳)۔۔۔باجوڑ ایریا ڈیویلپمنٹ پراجیکٹ

(۴)۔۔۔مہمند ایریا ڈیویلپمنٹ پراجیکٹ

(۵)۔۔۔مانسہرہ ویلج سپورٹ پراجیکٹ

(۶)۔۔۔بارانی ایریا ڈیویلپمنٹ پراجیکٹ

(۷)۔۔۔دیر ایریا سپورٹ پراجیکٹ

(ii) پراجیکٹ برائے ادارہ تحفظ ماحولیات

(۱)۔۔۔انسٹیٹیوشنل سٹرینتھنگ آف ای۔پی۔اے۔ صوبہ سرحد

(۲)۔۔۔امپرومنٹ آف اربن انوائرمنٹ ان پشاور

(۳)۔۔۔انسپکٹوریٹ آف ورکس

(۴)۔۔۔واٹر سیکٹر انوسٹمنٹ پلاننگ سیل

(۵)۔۔۔سوشل ایکشن پروگرام سیل

(۶)۔۔۔سٹرینتھنگ آف پی ای اینڈ ڈی ڈیپارٹمنٹ

(ب) جی ہاں ۔ ہر پراجیکٹ میں پی سی ون میں موجود منظور شدہ آسامیاں کو پر کرنے کے لئے قواعد و ضوابط کے مطابق بھرتیاں محکمہ کمیٹیوں کی وساطت سے کی جاتی ہیں اور ضرورت کے مطابق سرکاری محکموں سے بھی تجربہ کار افراد کو ایک مخصوص وقت کے لئے ڈیپوٹیشن پر لیا جاتا ہے۔

(ج) جی نہیں۔ پراجیکٹس کے عملے کو پی سی ون کے مطابق تنخوائیں دی جاتی ہیں۔ جو کسی بھی صورت میں ۲۰ فی صد سے زیادہ نہیں ہوتیں۔ اس کے علاوہ پراجیکٹس کے لئے گاڑیاں امدادی ایجنسیوں کی مہیا کردہ رقوم سے پی سی ون کے مطابق خریدی جاتی ہیں ۔جس سے

حکومت کے خزانے پر کوئی بوجھ نہیں پڑتا۔

(د) اس وقت صوبہ سرحد میں کل ۶۶ پراجیکٹس بیرونی امداد سے چل رہے ہیں۔ جس کی فہرست لف ہے۔ محکمہ منصوبہ بندی ماحولیات و ترقیات کے زیر انتظام چلنے والے پراجیکٹس جن کی تفصیل اوپر دی جا چکی ہے۔ میں کام کرنے والے ملازمین کی فہرست بمعہ تعلمی کوائف اور تنخواہ Annexure-A میں مہیا کی گئی ہیں۔

(د) (ii) محکمہ منصوبہ بندی ماحولیات و ترقیات کے پراجیکٹس میں موجود ہر گاڑی پر ہونے والے سالانہ خرچہ کی مکمل تفصیل Annexure-B میں مہیا کی گئی ہیں۔

<u>جناب پیر محمد خان</u>. شکریه جناب سپیکرصاحب ! دا د پی اینډ ډی پراجیکټ په باره کښې ما سوال کړے دے۔ دوی وائی چه خومره سرپه صوبه کښې جدا جدا 66 پراجیکټس دی، نو هسے سوچ اوکړئی جناب سپیکر چه 66 پراجیکټس دی او په دے کښې تاسو کیدے شی چه دا لسټ دیخوا کتلے هم وی، -/30,000 روپئی پکښې د یو یو کس تنخواه ګانے شته۔ په دے Anexture-A باندے چترال پراجیکټس، نو په دے یو چترال کښې 1,65,512 روپئی ماهوار تنخواه خی ۔ اوس جناب سپیکرصاحب، یو طرف ته حکومت وائی چه مونږه د محکمو هغه ډاؤن سائزن) کوؤ او محکمے کمه وو او په یو بل کښې ئے ادغام کوؤ۔ تراُوسه پورے دوی، په دے کښې زما دا سوال دے چه څومره ادغام ئے په دے پی اینډ ډی کښې اوکړو چه 66 پراجیکټ دی، مثلاً د ایجوکیشن پراجیکټ دے، پکار خو دا وه چه د ایجوکیشن پراجیکټ دِ ایجوکیشن محکمے ته حواله کړی، که هیلتھ

پراجیکټ دے نو چه هغه دِ هیلتھ محکمے ته حواله کړی که بل د کومے محکمے سره تعلق لری که فارسټ دے نوهغه دِ فارسټ ته حواله کړی۔ د هر یو د پاره جدا جدا خلق بهرتی شوے دے او دوی اقرارهم په دے کړے دے چه آو مونږ بهرتی کړے ده او په ګریډ 18 کښ، په ګریډ 17 کښ جناب سپیکرصاحب ډائریکټ دوی بهرتی کړے ده۔ نو ځما یو سوال دا دے چه آیا دوی دا 66 پراجیکټس چه دی دا په متعلقه محکمو کښ د ضم کولو اراده لری چه د صوبے خرچ بچ شی او دویم دا دے چه کومے پیسے چه د بهر نه راځی دا دِ پی اینډ ډی ته راځی او بیا هغه پیسو ادائیګی مونږه د فنانس په Through صوبائی حکومت کوی او Interest چه په مونږ پسے راځی نو هغه هم د فنانس په Through کیږی نو آیا دا پیسے د فنانس په Through راتلو ته حکومت تیار دے، په ځائے د پی اینډ ډی؟

<u>جناب بشیر احمد بلور</u> (وزیر قانون و پارلیمانی امور) On behalf of the Chief Minister, NWFP جناب سپیکرصاحب، دا ځما خیال دے که تاسو ته یاد وی نو هم په دے سیشن کښ دا سوال مخکښ هم راغلے وو او په دے باندے مونږهپوره Discussion هم کړے وو۔ ځنګه چه ځما ورور اوفرمائیل چه دا ډائریکټ دغه کیږی نو دا په Contract base باندے وی، دا داسے Permanent appointments نه دی۔ د دے د پاره دوه سلیکشن کمیټئی دی یوه چه کومه ده نو هغه چه کوم پوسټونه د 15 ګریډ پورے دی نو په هغے کښ کمشنر پولیټیکل ایجنټ Concerned Project Manager او Cheif of SDU د دوی څه خپل پراجیکټ منیجر پکښ ناست وی او کوم پوسټونه چه د 16 to 19 ګریډ پورے دی نوپه هغے کښ ایډیشنل چیف سیکرټری ممبر

Director Genral SDU, Chief SDU, Project وی او ۔ په ۔ هغے ۔ کښ
Manager, Department of S&GAD representative هم پکښ ناست وی
او د ماحولیاتو ممبر هم پکښ ناست وی او چه کله د 19 گریډ نه زیات وی نو
بیا That goes to the Cheif Minister level ، دا چه کومے تنخواه گانے
زیاتے دی نو په دے Floor of the House باندے د دوی سره دا Agree کړے
وه چه یو بی اے ، ایل ایل بی سړے وو چه هغه 30,000 روپئی اغستے خو
دا ما هغه وخت هم دا عرض کړے وو چه په دے کښ مونږ ته دا ، Foreign
Aided Programms دی نو په دے کښ مونږ د هغوی په Instructions باندے
چلیږو او دا د هغوی خپل Requirement دے چه دا به داسے کوئی۔ یو کس
وو چه Previous project کښ وو چه کله هغه پراجیکټ ختم شولو نو
مونږه اُووئیل چه دے په بل کښ نه اخلو نوچونکه داAided Projects دی نو
په دے وجه باندے مونږ هغوی ته انکارنه شوکولے ، په دے کښ موټرے هم
دومره زیاتے لیږلے دی چه په هغے به څومره Expenses کیږی، او لینډ
کروزرز او دا او دا ، زه دلته منسټر یم، دلته څما Colleagues دا دی ناست
دی، مونږ ته هغه ورکوتے ټیوټا موټرے او هغه هم په داسے حال کښ دی
چه نه چلیږی۔ او د پراجیکټ منیجرانو سره لینډ کروزرز دی خو دا صرف
ولے چه دا Foreign Aided پروگرامونه دی او دا د هغوی په وینا باندے
کیږی او څمونږه د حکومت په هغے کښ Interference نشته که څما وس
وے نو دا سوزوکے پریږده چه هیڅ ورله هم ورنه کړو۔ نو دا د هغوی په
وینا باندے کیږی او څما خیال دے چه په دے باندے ما د دوی سره مخکښ هم
خبره کړے وه او په دے کښ ما پخپله سحرتپوس هم اوکړو چه د چترال په

یو پراجیکټ کښې د سرګودهے نه سرے راغلے دے ، په دے کښې نے لیکلی دی یو پکښې د لاهور نه راغلے دے نو بیا ما تپوس اوکړو نو هغوی اُووئیل چه دا د ایس اینډ جی اے ډی والا سی ایس ایس آفسر دے نو دا پراجیکټ منیجر په دے وجه باندے د هلته نه راغلے دے۔ دا چه ما سحر اولیدل نو په دے کښې په مومند پراجیکټ کښې د چارسدے نه کلاس فور اغستلے شوے دی۔ د هغے هم ما سحر تپوس اوکړو نو هغوی راته اووئیل چه دا مومندان دی خو په چارسده کښې اوسیږی نو په دے وجه باندے هلته کلاس فور اغستلے شوے دی۔ نو حکومت پخپله دا کوشش کوی چه د هغے علاقے خلقو ته دِ روزګار ملاؤ شی چه دا پراجیکټ په کومه علاقه کښې وی او بیا د حکومت کوشش هم دا دے څنګه چه پیر محمد خان صاحب اوفرمائیل چه مونږه دا ډاؤن سائزډ ) کوؤ، مونږ کوشش کوؤ چه هغه کم شی خو په دے Foreign Aided projects کښې خمونږه وس نه رسی۔ نو په دے وجه باندے دا داسے کیږی۔

جناب احمد حسن خان : جناب سپیکر! که دوی مهربانی اوکړی ، حقیقتاً خبره دا ده چه د PC-I او د Agreement په بنیاد باندے دا د دوی مجبوری ده ، که په مستقبل کښې دا حکومت خپل Priorities او خپل ضرورتونو او د خپلے مجبورئی ، داسے یو صورتحال جوړ کړی - هیڅ څوک پکښې څه نه شی کولے۔ خمونږ ګورنمنټ وو نو هم د دے طرف نه به دوی سوال کوؤ د اپوزیشن رونړو، دوی به هم وئیل چه دا د پراجیکټ یوه حصه ده او په دے باندے Non developmental expenditure ډیر زیات دی۔ دا خما یو تجویز دے او ورسره مے دا ضمنی سوال دے جناب سپیکر چه اوس کوم ایفاد

پراجیکټ هلته شروع کیږی نو خمونږ د علم مطابق بغیر د څه Codal formailities نه په هغے کښی په لاندے درجه کښی بعضِ ملازمین بهرتی شوےدی۔ آیا جناب منسټر صاحب به د دے تحقیقات اوکړی او ما به د اسمبلئی نه بهر یا چه څنګه دوی مناسب ګنړی بیا خبر کړی چه دا صورتحال داسے دے؟

جناب نجم الدین ، خما دا عرض دے ، پیر محمد خان صاحب چه کوم سوال کړے دے ، دا ټول سکیمونه چه کیږی په Through – align department کیږی ، لکه ایکسینٔ سی اینډ ډبلیو د بل بل ، چه یو طرف ته جی هغهٔ پراجیکټ د Align department په Through باندے کیږی او بل طرف ته د هغے سره سره په پراجیکټ کښی هم اتهاره ګریډ ، انیس ګریډ او بیس ګریډ افسران او بیا هغوی له نے ایک لاکھ ، پچاس هزار او ساٹھ هزار روپئی تنخواګانے مقرر کړی دی۔ مونږ اوس یو نوے پراجیکټ ستاسو په نوټس کښی راولو او دا خبره خان سره نوټ کړئی ، دیر کوهستان ډیویلپمنټ یو نوے پراجیکټ منظور شوے دے ۔ هغه پینتالیس کروړ روپو پراجیکټ دے په هغے کښی ICUN ورته وائی اتهاره کروړ روپے صرف د دے د پاره ترینه هغوی په اسلام آباد کښی نیولے دی چه په دے کښی به مونږ زاړه بوډاګان بهرتی کړو او هلته به ناست وی، کمیټی به جوړوی ۔ کمیټی خوجی د فارسټ یو معمولی شان فارسټ ګارډ هم جوړولے شی ۔ خما د منسټر صاحب نه دا Request دے چه دا غیر ، دا اتهاره کروړ روپے خو صرف هغه د ګاډو اخلی او بیا چه کوم د کوم بهر نه Consultant راځی د هغوی تنخواګانے علاوه دی ۔نو دا کومه خبره ده چه Non developmental

90% expenditure وی ، نو یا خو دِ دا پراجیکټ بند کړی او که پراجیکټ نه بندوی نو د دے د پاره دِ یو داسے طریقه کار جوړ کړی چه Already align Department دِ هغه کارکوی ، نو دے ته دوی تیار دی چه په دے کښې هم ډاون سائزنګ ) اوکړی او دا پیسے بچت کړی او د خلقو کارونه پرے اوشی؟

<u>وزیر آبپاشی و آبنوشی، قانون و پارلیمانی امور</u>. څنګه چه احمد حسن اوفرمائیل جی چه دا ایفاد پراجیکټ نوے شروع کیږی، دے کښې به دوی دِ ماته حکم اوکړی زه به خپل سری هم راوغوارم او دا کومے نوکرئی دی، چه د دوی په حلقه کښې کوم ځائے کښې چه ایفاد پراجیکټ کارکوی ځم د هغے علاقے کسانو ته به Priority ملاویږی او کلاس فور به انشاء الله ټول د هغے علاقے نه کیږی ۔ څنګه چه خما ورور اوونیل چه % 90 په غیر ډیویلپمنټ کارونو باندے لګی ،داسے نه ده جی ۔ د دے د پاره څه 20 to 30% پورے په هغے کښې لګی ۔ او دا مونږ نه هغوی ، نه لون دے نه Interest دے بلکه یو شے مفت ملاویږی ، او په هغے کښې ډیر معمولی غوندے چه هغه Handling charges به وی، هغه هم څه زیات نه دی او په دے کښې خو اوس څمونږ مجبوری ده چه کوم سرے بے وسه وی او پیسه پکار وی ، نو که آئی ایم ایف والا که په مونږ باندے دغه اچوی یا ورلډ بنک والا که په مونږ باندے کوم شرائط لګوی هغه ټولے دنیا ته پته ده خو په دے وجه چه مونږ دا Projects refuse کولے نه شو په دے وجه باندے د هغوی خبره منلے کیږی ۔

<u>جناب پیر محمد خان</u> ، جناب سپیکر صاحب، خما ضمنی سوال دا دے لکه څنګه چه دوی اوونیل چه د بهر ملک نه پیسه راځی او مونږ پکښې ملازمین په

غټو تنخواګانو باندے یا په ډیر تعداد کښ لګوو او هغوی سره ګاډی راځی ـ نو یو دا دے چه د دے ګاډو څه قیمت شته که نشته ؟ او د ګاډو دا پیسه به مونږ ورکوؤ که نه به ورکوؤ، دے پراجیکټ نه ځی که نه ځی ؟ بل د دے پراجیکټ د پیسو به مونږ واپس پیمنټ کوؤ که نه به کوؤ که دا فری دی ؟

<u>وزیر آبپاشی و آبنوشی</u>: د پراجیکټس چه کوم ګاډی دی دا پراجیکټ والا مونږ ته پریږدی او ګاډی مونږ ته واپس پاتے کیږی او چه کوم لون دے هغه به مونږ واپس کوؤ چه کوم لون نه دے کوم Aided پروګرامونه دی هغه مونږ نه واپس کوؤ ـ هغه مونږ له هغوی یو خیرات غوندے راکوی Aided Programme ورته وائی او چه کوم لون وی هغه به مونږ ورکوؤ Repay کوؤ به او که لون نه وی، نو هغه مونږ نه Repay کوؤ ـ

<u>جناب پیر محمد خان</u>، دا ګاډی مونږ ته فری راځی ،دلته بیا پاتے کیږی ؟

<u>وزیر آبپاشی و آبنوشی</u>: هغوی په خپل پراجیکټ کښ ګاډی راولی ، د صوبائی حکومت نه پیسے نه اخلی ـ

<u>جناب پیر محمد خان</u> ، ښه ،جناب سپیکر صاحب ، دے کښ ، لکه دوی چه مخکښ جواب کښ اووئیل په ګریډ ستره، اتهاره، اُنیس کښ دوی ډائریکټ بهرتی کوی دا د کوم قانون لاندے دوی کوی ؟ دا اختیار دوی له چا ورکړے دے ؟ د اسمبلی نه خو دلته کښ چرته قانون نه دے پاس شوے چه دوی به ګریډ اتهاره، اُنیس او ستره کښ ډائریکټ .بهرتی کولے شی ـ ځکه چه دا خو د پبلک سروس کمیشن پوسټ دے ـ که دوی وائی چه مونږ ئے په کنټریکټ باندے کوؤ نو آیا په کومو سکولونو یا هسپتالونو کښ پوسټونه خالی دی نو هغے باندے په کنټریکټ بهرتی ته دوی تیار دی ـ

<u>وزیر آبپاشی و آبنوشی</u> ، جناب سپیکر صاحب ! ما چه څنګه عرض اوکړو چه دا Foriegn Aided پروګرامونه دی او هیلتھ ډیپارټمنټ یا ایجوکیشن ډیپارټمنټ اخلی نو د هغے پیسے د پراونشل ګورنمنټ د Exchequer نه ورکړے کیږی، نو په هغے باندے مونږ نه شو کولے۔

<u>جناب پیر محمد خان</u> ، جناب سپیکر صاحب ! که تاسو دا Page12 اوګورئی په دے کښی ګریډ 18 افسر ئے لیکلے دے، د هغه تنخواه -/5906 ښودلے ده او لاندے ګریډ -16 چه دے، ښکته په سات نمبر کښی -/6800 ورکړے ده۔ د ګریډ اتھاره -/5900 ده او د ګریډ سوله -/6800 ده۔ دا چرته په قانون کښی شته چه د ګریډ -16 تنخواه به زیاته وی او د ګریډ اتھاره به کمه وی۔ دا د کوم قانون لاندے ده۔

<u>وزیر آبپاشی و آبنوشی</u> ، سپیکر صاحب ! ما خو عرض اوکړو چه دا په Contract basis باندے دے او دے کښی سړی سړی او کارکار باندے ، یو خائے کښی به کار زیات وی، د هغے ډیویلپمنټ به زیات وی هغے کښی به فنډ زیات وی او د هغے سره به د هغے څه طریقه کار وی او دے کښی چه څنګه ما مخکښی عرض اوکړو چه دا یو کمیټی ده چه هغه په کنټریکټ باندے خلق اخلی او هغوی نه انټرویو اخلی او کوشش کوی چه په میرټ باندے واخلی خو خما په خپله دے باندے دا دے چه دا په میرټ اخلی نو څنګه په میرټ باندے اخلی چه د یو سړی تنخواه زیاته یا کمه وی ۔ خو خما خیال دے چه دا کیس ټو کیس دوی کوی ۔دا کیدے شی چه په یو پراجیکټ کښی د یو سړے اتھاره ګریډ وی هغه کمه اخلی او په بل پراجیکټ کښی ستره ګریډ وی هغه زیاته اخلی، په دے وجه باندے داسے شوے دی ګنی خما خیال نه دے چه

په يو پراجيکټ کښې به داسے کارشوے وي۔

<u>جناب پیر محمد خان</u> ، تاسو جی دا Page 12 اوګورئی په Page 12 باندے دا نمبر 1 چه دے دا ګریډ 18 دے او تنخواه ئے -/5906 ده او بیا په نمبر 7 باندے یو ګریډ 16 دے او د ده تنخواه -/6800 ده ، داسے د ګریډ17 هم د ګریډ 18 نه سیوا ده ۔ نو دے کښې څه داسے Malafide غونډے نه ښکاری؟

<u>وزیر آبپاشی و آبنوشی</u> ۔ سپیکر صاحب ! څنګه چه دوی اوُونیل دا به کینو خبره به پرے اوکړو چه دا ولے داسے دی۔ انشاء اللّٰه دا به ورته Clear کړو او بهر ما دا پراجیکټ منیجران څه غوښتی هم دی، دا به کینو او به ګورو چه ولے داسے شوے ده؟

<u>جناب سپیکر</u> ، جی همایون خان تاسو څه وئیل غوښتل۔

<u>جناب همایون سیف اللّٰہ خان</u> ، سپیکر صاحب ! منسټر صاحب یو لفظ اووئیلو" خیرات" ۔ دا دِ Expunge کړے شی ۔ تاسو په خپله باندے اُوونیل خیرات ۔ A self respecting country should not accept" Khairat" from any body. یو طرف ته خو وائی چه کشکول ماتوؤ، بل طرف ته خیراتونه غوارئی جی؟

<u>جناب پیر محمد خان</u> ، جناب سپیکر صاحب۔

<u>جناب سپیکر</u>: امداد وائے کنه جی امداد لفظ۔ د دوی مطلب امداد وو ۔

<u>جناب همایون سیف اللّٰہ خان</u> ، خو دوی خو خیرات یاد کړو کنه جی ۔ د خیرات مطلب خو داوی کنه جی۔

<u>وزیر آبپاشی و آبنوشی</u>: زه د همایون خان مشکوریمه خما صرف دا مطلب وو چه مونږ دومره یے بسه یو د خیرات ، امداد۔ اصل ۔کښې Aided –

programme دے امداد دے خو ما خیرات په دے اوونیل چه مونږ دومره بے وسه یو چه هغوی نے مونږ ته راکوی نو خمونږ مجبوری ده چه د هغوی خبره اومنو۔

جناب پیر محمد خان ۔ جناب سپیکر صاحب ---------

جناب سپیکر ۔ پیر محمد خان، په ټول وخت کښ به دا اوکړو نو ۔

جناب پیر محمد خان ۔ جناب سپیکر صاحب ! لږ یو خبرے ته تاسو سوچ اوکړئی۔ په دے بل مد کښ چه دوی د تیلو خرچه ښودلے ده، نو په یو یو گاډی پسے څه دو هزار او بعضِ پسے تین هزار او چار هزار داسے ،دا د تیلو خرچه ده۔ خو بیا مخکښ یو Page دے چه هغے ته سرے لاړ شی جناب سپیکر صاحب نو په دے کښ به د دوی نه په غلطئ باندے ریشتیا ونیلی شوی دی یو گاډے چه 85 ماډل دے او PRK 730 نمبر نے دے۔ د97-1996 د ده د تیلو خرچه نے 34853 نے ښودلے ده او دا دیخوا گاډی چه څه دی نو تین هزاردو هزار دا خرچه نے ده ۔ نو د دوی دا څیز ټول غلط نه ښکاری چه ټول په یو کال کښ د یو گاډی د تیلو خرچه تین هزاردو هزار وی دا ممکنه ده ؟ نو د دے مطلب دا دے چه دوی اصل څیز پټ کړے دے۔ خما دا ریکویسټ دے چه دا سټینډنګ) کمیټئ ته حواله کړئی چه د دے پوره چهان بین اوشی او خما خیال دے وزیر صاحب به په دے کښ اتفاق کوی چه په یو خانے کښ په یو گاډی خرچه چونتیس هزار ده او په بل خانے کښ دو هزار اوتین هزار راځی۔ تاسو به دا لسټ پوره کتلے وی نو بیا خما خیال دے ---

جناب سپیکر ۔ خما خیال دے بهتر حل به نے دا وی، دوی به وروستو اوگوری هغه خپل کسان نے راغلی دی، هغوی سره به کینی -----------

وزیر آبپاشی و آبنوشی: یو کلنیرنس کوم جی، دوی د اتهاره او د سوله گرید خبره اوکړه نو خما خیال دے چه دا اتهاره گرید به فریش اپوائنتمنټ وی او سوله گرید به زوړ اپوائنتمنټ وی نو په دے وجه باندے د هغه تنخواه به زیاته وی، Other wise کله هم د سوله گرید تنخوا د اتهاره گرید نه نه شی زیاتیدے۔ بله دوی د پټرولو خبره اوکړه نو مونږ خو ، چه څومره چرته خرچ شوے دی، یو خائے کښ به په یو میاشت کښ خرچ کم راغلی وی او په بله میاشت کښ به زیات راغلی وی نو داسے نه ده چه مونږ غلط جواب کړے دے۔ مونږ خو کلنیر کټ وئیلی دی او مونږ دا پټول هم نه غواړو ۔ ولے چه څمونږ پکښ زاتی څه فائده نشته۔ خما خیال دے چه د دوی نور څه پرابلم وی نو دوی دِ راشی کیبنو، انشاء اللّٰه Settle به ئے کړو او چه دا کمیټئ ته حواله شی نو په کمیټئ کښ به تهریش آوټ به شی۔ څه فائده ئے نه رسی او کوم شے چه کمیټئ ته لاړ شی بیا د هغے څوک تپوس هم نه کوی ۔ که دوی Immediately دا حل غواړی نو پکار ده چه دوی دِ خان سره پوانټس اولیکی او ماته دِ بهر کینی نو دا به Immediately انشاء اللّٰه سټیلډ کړو۔

جناب پیر محمد خان : جناب سپیکر صاحب ! ما چه کله کونسچن ورکړے وو د هغے ډیر وخت شوے دے لکه دے خائے کښ سوله گاډی دی او د هغے 40469 روپئی د یو کال د تیلو خرچه ده او په دے خائے کښ بیا یو گاډے دے د هغه 34853 ده، بیا بل گاډے دے، د هغه 28297 ده -یعنی د دو گاډو خو ئے 34000 او 28000 ورکړے ده او دلته کښ دا سوله گاډی دی د هغے ئے 40000 ورکړے ده نو دا خبره عقل اخلی۔

وزیر آبپاشی و آبنوشی، نه نو کیدے شی چه چا به زیات پټرول لګولی وی، چا به کم پټرول لګولی وی۔ دا خو ضروری نه ده چه په ټولو ګاډو کښې خامخا برابر پټرول لګی۔

جناب سپیکر، د دوی د تسلی د پاره وروستو تپوس اوکړئی چه دا ولے داسے ده۔

وزیر آبپاشی و آبنوشی: بالکل، د دوی د تسلئی د پاره به کینو خو Other wise چه څومره پټرول لګی نو مونږ به ورته کلئیر کټ وایو۔

**Mr. Speaker:** Honourable Muhammad Zahir Shah Khan MPA to please ask his Question No. 290. Zahir Shah Khan.

*290 جناب محمد ظاہرشاہ خان، کیا وزیر منصوبہ بندی و ترقیات ازراہ کرم ارشاد فرمائیں گے کہ،

(ا)- آیا یہ درست ہے کہ حکومت نے دیر، چترال، باجوڑ، بونیر، اور ملاکنڈ جیسے پسماندہ علاقوں کی پسماندگی دور کرنے کے لئے ترقیاتی منصوبے شروع — کئے ہیں جن میں سے بعض مکمل ہو گئے ہیں؟

(ب)- آیا یہ بھی درست ہے کہ ضلع شانگلہ مذکورہ علاقوں سے زیادہ پسماندہ ہے؟

(ج)- اگر (ا) و (ب) کے جوابات اثبات میں ہوں تو آیا حکومت ضلع شانگلہ کی پسماندگی دور کرنے کے لئے ترقیاتی منصوبے شروع کرنے کا ارادہ ر — کھتی ہے؟

وزیر منصوبہ بندی و ترقیات، (ا)- جی ہاں۔

(ب)- جی ہاں - شانگلہ صوبے کے انتہائی پسماندہ علاقوں میں شامل ہے -

(ج)۔ حکومت صوبہ سرحد نے کافی عرصہ پہلے اس علاقے میں ایک پراجیکٹ انٹیگریٹیڈ فارسٹ ڈیویلپمنٹ پراجیکٹ کے نام سے شروع کیا تھا۔ جس کو بعد میں اس کی کارکردگی کا دائرہ وسیع کر کے شانگلہ پار انٹیگریٹیڈ رورل ڈیویلپمنٹ پراجیکٹ کا نام دیا گیا۔

اس وقت اس کی فزیبلٹی رپورٹ جو کہ ایک کنسلٹنٹ فرم نے مکمل کی ہے حکومت صوبہ سرحد کے زیر غور ہے اس منصوبے پر لاگت کا تخمینہ ۳۱۹ ملین روپے ہے۔ جس میں سے ۲۸۲ ملین روپے کی بیرونی کرنسی جو جاپان انٹرنیشنل کارپوریشن ایجنسی مہیا کرے گی شامل ہے۔پراجیکٹ میں سارے کا سارا ضلع شانگلہ شامل ہے۔اور اس کے مقاصد میں سرفہرست علاقے کی دیہی اقتصادی حالت کو بہتر بنانا ہے۔

Mr . Speaker: Honourable Zarin Gul Khan MPA to please his Question No. 328 .

*۔ 328 جناب زرین گل خان: کیا وزیر منصوبہ بندی وترقیات ازراہ کرم ارشاد فرمائیں گے کہ:۔

(ا)۔ آیا یہ درست ہے کہ کالا ڈھاکہ ایک پسماندہ علاقہ ہے؟

(ب) آیا یہ بھی درست ہے کہ مذکورہ علاقے کی تعمیرو ترقی کے لئے بیرونی امداد سے "کالا ڈھاکہ ایریا ڈیویلپمنٹ پراجیکٹ" چل رہا تھا؟

(ج)۔ آیا یہ بھی درست ہے کہ مذکورہ پراجیکٹ کے فیز ون کے بعد ترقیاتی کاموں کے آغاز سے پہلے یہ پراجیکٹ ختم کیا گیا؟

(د)۔ اگر (ا) تا (ج) کے جوابات اثبات میں ہوں تو

(ا)۔ مذکورہ پراجیکٹ کیوں ختم کیا گیا۔

(۲)۔ آیا حکومت مذکورہ علاقے کی پسماندگی دور کرنے کے لئے نئے

پراجیکٹ شروع کرنے کا ارادہ رکھتی ہے؟

(۲)۔ آیا موجودہ حکومت نے کالا ڈھاکہ کے علاقے کی تعمیر و ترقی کے لئے آئندہ بجٹ میں رقم مختص کی ہے۔ اگر نہیں تو وجوہات بتائی جائیں۔

وزیر منصوبہ بندی و ترقیات ا)۔ جی ہاں۔

(ب)۔ جی ہاں۔

(ج)۔ جی ہاں۔

(د)، (۱)۔ کالا ڈھاکہ ایریا ڈیویلپمنٹ پراجیکٹ عرصہ پانچ سال کے لئے یو۔ایس ایڈ کی امداد سے منظور ہوا تھا۔ جس کا کل تخمینہ لاگت ۵۔۲۶ ملین ڈالر یا ۵۸۸۔۱۴۴ ملین روپے تھا۔ پہلے مرحلے (1989 تا 1990) میں بیس لائن سروے اور پی۔ایم۔یو۔ قائم کرنے کا کام تھا جو دو سال میں مکمل ہونا تھا۔ اس مرحلے میں امدادی ایجنسی نے 35. 222 ملین روپے پراجیکٹ کو فراہم کئے۔ پراجیکٹ کا دوسرا مرحلہ تین سال کے لئے (1991 تا 1993) تھا۔ اس مرحلے کے شروع ہونے سے پہلے ہی بدنام زمانہ پریسلر ترمیم کی وجہ سے امریکی امداد بند ہوگئی۔ جس کے نتیجے میں پراجیکٹ کا دوسرا مرحلہ شروع نہیں کیا جاسکا۔

(۲)۔ حکومت صوبہ سرحد نے علاقہ مانسہرہ میں ایک پراجیکٹ 1993 سے شروع کیا ہوا ہے۔ اس پراجیکٹ میں کالا ڈھاکہ کا بھی کچھ حصہ شامل ہے۔ جس میں مختلف ترقیاتی نوعیت کے کام ہونے ہیں۔

(۳)۔ موجودہ حکومت کے منشور میں یہ بات سرفہرست ہے کہ پسماندہ علاقوں کی ترقی کے لئے جتنا بھی وسائل کے اندر رہتے ہوئے ممکن ہوا اس کی ترقی کے لئے خطیر رقم مہیا کی جائے گی۔ نیز یہ بھی موجودہ حکومت کی پالیسی

ہے کہ تمام علاقے یکساں طور پر ترقی کرسکیں۔ اس لئے آئندہ بجٹ میں اس علاقے کی ترقی کے لئے مختلف ترقیاتی سکیمیں شروع کی جائیں گی۔

تمام کالا ڈھاکہ کا رقبہ مانسہرہ ویلج سپورٹ پراجیکٹ میں شامل ہیں ۔ اس پراجیکٹ کے تحت علاقہ کالا ڈھاکہ میں تیس کمیونٹی آرگنائزیشن قائم ہوئے ہیں۔ ہر ایک کمیونٹی آرگنائزیشن میں انتہائی حد چار لاکھ پچاس ہزار روپے تک دیہی سرمایہ کاری ہوسکتی ہے ۔ اس پر مجموعی طور پر ایک کروڑ پینتیس لاکھ روپے کی سرمایہ کاری ہو گی ۔ اس کے علاوہ کمیونٹی کے ممبران کو نمائشی پلاٹ، زراعت ، لائیو سٹاک، فروٹ اینڈ ویجیٹیبل مارکیٹنگ میں تربیت دی جائے گی۔ علاوہ ازیں بہتر تخم خادمی چوزے اور مختلف تربیتی اوزار کی فراہمی بھی شامل ہے۔

اگرچہ مانسہرہ پراجیکٹ کے پی سی ون میں کالا ڈھاکہ کے لئے انفراسٹرکچر کے لئے کوئی گنجائش نہیں ہے تاہم ڈالر کے مقابلے میں روپے کی قیمت میں کمی کی وجہ سے کچھ بچت ہوئی ہے جس سے ایک ریزرو فنڈ قائم کیا گیا ہے اور امدادی ادارہ (آئی ایف اے ڈی) کی منظوری سے اس ریزرو فنڈ کا پیسہ استعمال ہو گا جس میں مندرجہ ذیل سڑک اور آبپاشی کے چینل کالا ڈھاکہ میں تعمیر ہوں گے ۔

| نمبر شمار | نام اسکیم | تخمینہ لاگت | لمبائی۔ |
|---|---|---|---|
| ۱۔ | مجاہدین منجا کوٹ پلوسہ سڑک۔ | 21 ملین روپے۔ | 14 کلو میٹر (شنگل سڑک) |
| ۲۔ | میرہ مداخیل سول چینل۔ | 2.5 ملین روپے۔ | 8 ہزار فٹ۔ |
| ۳۔ | بکرائی سول چینل ۔ | 2 ملین روپے۔ | 12 ہزار فٹ۔ |
| ۴۔ | سونیا سول چینل ۔ | 1.2 ملین روپے۔ | 4 ہزار فٹ۔ |
| ۵۔ | چاری کوٹ سول چینل۔ | 1.5 ملین روپے۔ | 5 ہزار فٹ۔ |

۶۔ نوا کلی سول چینل۔ 1.0 ملین روپے۔ 8ہزار فٹ۔

۷۔ لڈ سول چینل۔ 1.5 ملین روپے۔ 8ہزار فٹ۔

۸۔ جیگول باسی سول چینل۔ 1.0 ملین روپے۔ 6ہزار فٹ۔

میزان۔ 31.7 ملین روپے۔

**Mr . Speaker:** Honourable Zarin Gul Khan MPA to Please ask his Question No. 367 .

*۔ 367 جناب زرین گل خان: کیا وزیرمنصوبہ بندی ماحولیات و ترقیات از راہ کرم ارشاد فرمائیں گے کہ:۔

(ا) آیا یہ درست ہے کہ ضلع مانسہرہ کی ترقی کے لئے مانسہرہ ویلج سپورٹ پراجیکٹ پر کام شروع ہو چکا ہے؟

(ب) آیا یہ بھی درست ہے کہ مذکورہ پراجیکٹ کے باعث مختلف علاقوں میں سڑکوں اور دوسرے منصوبوں کو پایہ تکمیل تک پہنچایا گیا ہے؟

(ج) اگر (ا) و (ب) کے جوابات اثبات میں ہوں تو مکمل شدہ اور زیرتکمیل منصوبوں کی فہرست فراہم کی جائے۔

(د) آیا یہ بھی درست ہے کہ کالا ڈھاکہ ضلع مانسہرہ کا پسماندہ علاقہ ہے نیز مذکورہ پراجیکٹ سے تا حال کالا ڈھاکہ کے کتنے منصوبوں پر کام جاری ہے؟ فہرست فراہم کی جائے؟

(ھ) آیا حکومت مستقبل میں کالا ڈھاکہ کے علاقے کی ترقی کے لئے کام شروع کرنے کا ارادہ رکھتی ہے؟

وزیرمنصوبہ بندی ' ماحولیات و ترقیات ۔ جواب۔

(ا) جی ہاں ۔ جولائی 1993 سے ایک پراجیکٹ بنام مانسہرہ سپورٹ

پراجیکٹ نے مانسہرہ اور بٹگرام کے اضلاع میں کام شروع کر دیا ہے۔

(ب) جی ہاں۔

(ج) پراجیکٹ کے تحت ہونے والے منصوبہ جات کی تفصیل ۔

| | نام منصوبہ | کل لاگت۔ |
|---|---|---|
| ۱۔ | پختہ سڑکیں 47 کلو میٹر بشمول ایک عدد پل | 178 ملین روپے۔ |
| ۲۔ | 19 آبپاشی کے منصوبے ۔ | 30 ملین روپے۔ |

(مندرجہ بالا منصوبہ جات کی نشاندہی اورمنظوری متعلقہ محکمہ جات نے پراجیکٹ شروع ہونے سے پہلے کر دی تھی) تفصیل " اے " لف ہے اور جو کہ لائبریری میں ملاحظہ کی جا سکتی ہے۔

(د) جی ہاں۔ یہ درست ہے کہ کالاڈھاکہ کے قبائلی علاقہ میں باقی ماندہ ضلع کی طرح کام ممکن نہیں ۔ تاحال صرف ایک گاؤں " کنڈر " میں آزمائشی بنیادوں پر کئی منصوبے مکمل کئے گئے ہیں اور ایک منصوبہ پر کام شروع کیا گیا ہے جس کی لاگت تین لاکھ ساٹھ ہزار روپے ہے ۔

(ھ) مانسہرہ ویلج سپورٹ پراجیکٹ کے تحت نئے شروع کئے جانے والے منصوبہ جات میں مجاہدین سے براستہ منجا کوٹ تا پلوسہ ایک عدد شنگل روڈ اور سات عدد آبپاشی کے منصوبے شامل ہیں (تفصیل "بی" لف ہے اور جو کہ لائبریری میں ملاحظہ کی جا سکتی ہے)

اس کے علاوہ تین چھوٹے چھوٹے منصوبہ جات جن کی نشاندہی اجتماعی طور پر متعلقہ علاقہ کے لوگ کریں گے اور اگر پراجیکٹ کے مقرر کردہ معیار پر پورا اترتے ہوں "پر" بھی کام شروع کیا جائے گا۔

**Mr. Speaker:** Honourable Muhammad Zahir Shah Khan MPA to

please ask his Question No. 319.

*۔ 319 جناب محمد ظاہر شاہ خان، کیا وزیر توانائی از راہ کرم ارشاد فرمائیں گے کہ ؟۔

(ا) آیا یہ درست ہے کہ حکومت نے 30 مارچ 1995 کے ضمنی الیکشن میں میرے حلقے پی ایف 70 سوات میں کثیر تعداد میں بجلی کے کھمبے اور ٹرانسفارمرز تقسیم کئے تھے؛

(ب) آیا یہ بھی درست ہے کہ حکومت نے مذکورہ کھمبوں اور ٹرانسفارمرز کے عوض واپڈا کو ادائیگی بھی کی تھی؛

(ج) اگر (ا) و (ب) کے جوابات اثبات میں ہوں تو مذکورہ تمام کھمبوں اور ٹرانسفارمرز پر حکومت نے کل کتنی رقم خرچ کی مکمل تفصیل فراہم کی جائے؛

وزیر توانائی، جواب۔

(ا) جی ہاں۔

(ب) حکومت نے واپڈا کو 27 لاکھ روپے کی ادائیگی کی تھی۔

(ج) کھمبوں اور ٹرانسفارمرز پر واپڈا کے 21 لاکھ روپے خرچ ہوئے جس کی

تفصیل درج ذیل ہے ۔

| | | |
|---|---|---|
| ۱۔ | H/T Poles | 3 عدد۔ |
| ۲۔ | L/T Poles | 500 عدد۔ |
| ۳۔ | T/F 50 KVA | 5 عدد۔ |
| ۴۔ | T/F 25 KVA | 3 عدد۔ |
| ۵۔ | T/F 100KVA | 2 عدد۔ |

دستخط ڈائریکٹر

سی ایم اینڈ او ایریا الیکٹرسٹی بورڈ

واپڈا، پشاور۔

جناب احمد حسن خان ، جناب سپیکر ! چونکه ظاهر شاه خان خو نشته دے نو زه دومره عرض کوم چه د سوال اولنے جز کښں تاسو اوگورنی " که آیا یه درست ہے کہ حکومت نے 30 مارچ 1995 کے ضمنی الیکشن میں میرے حلقے پی ایف 70 سوات میں کثیر تعداد میں بجلی کے کھمبے اور ٹرانسفارمر تقسیم کئے ۔ دوی مخامخ لیکی چه" جی ہاں" یعنی کثیر تعداد میں بجلی کے کھمبے اور ٹرانسفارمر، بیا لیکی چه آیا یہ درست ہے کہ حکومت نے مذکورہ کھمبوں اور ٹرانسفارمرز Dues کی واپڈا کو ادائیگی بھی کی ہے ۔ حکومت نے واپڈا کو ستائیں لاکھ روپے نو جناب سپیکر که دا تاسو اوگورنی د سوال دا جواب پخپله د دے خبرے نفی کوی چه کثیر تعداد میں بہت زیادہ تعداد میں او بیا په دے حواله د ضمنی الیکشن په سلسله کښں ، خما په خپل خیال نن په یو کلی باندے د بجلی‌خرچه د ستائیس لاکھ روپو نه زیاته راځی نو دا دومره زیات دغه نه دے خو خما په دے کښں صرف دا عرض دے چه جناب وزیر متعلقه به دا تسلی راکړی ، دا هر څه چه دی خو دا پراپرتی ده او هلته کښں بے ځائے او بیکاره پرته ده د حکومت پرے خرچ شوے دے آیا حکومت به د دے د تکمیل د پاره فوری څه بندوبست اوکړے شی یا نه؟

وزیر آبپاشی و آبنوشی ۔ جناب سپیکر صاحب ! دوی چه د کثیر تعداد خبره کوی نو واپډا 583 ورکوتی پولونه هلته غورزولی دی او درے لوئے پولونه ۔ دی ۔ پنځه ۔ ٹرانسفارمرے دی ، دوه 100 ۔ 50 KV

KV" رانسفارمرے دی ،درے 25 KV ٹرانسفارمرے دی او دا تقریباً د 27 لاکھ روپو سامان دے او په دے کښی هغوی 21 لاکھ روپو سامان هلته غورزولے دے، په خانے پراته دی او 6 لاکھ روپئی واپډا سره Balance دی نو ما اوس تپوس اوکړو چه تاسو دا شپږ لکهه روپئ په دے باندے ولے نه خرچ کوی - نو هغوی دا وائی چه په دے باندے زیاتے پیسے لګی او تر کومے پورے چه مونږ دا پوره پراجیکټ مکمل کولے نه شو نو دا شپږ لکهه روپئ هم ضائع کیږی زه دے هاؤس او خپل ورورته ستاسو په وساطت دا تسلی ورکوم چه انشاء الله چه کله مونږ له فنډ راشی نو دا به پهلا فرصت کښی مکملوؤ ، ولے چه Already 21 لاکھ روپئ د حکومت او د قام ضائع شوے دی هلته پرتے دی او که دا پوره او نه شی نو دا څه فائده نه کوی چه دا اوکړی نو انشاء الله ، خما یقین دے چه هر کله مونږ ته فنډ مهیا شو نو زر تر زره به مونږ د دے د مکمل کولو کوشش به کوؤ -

جناب پیر محمد خان ، جناب سپیکر صاحب! حکومت دے ته تیار دے چه دا کومپولونه چه تلی دی او پیسه پرے خرچ شوے ده او هسے پراته دی نو دوی خلقو ته دا اجازت ورکوی چه هغوی ئے په خپل خرچ باندے په خپله اولګوی، داسے حکومت ته دا پیسه هم بچ شی او کار پرے دستی دستی زر اوشی او که هغوی پرے نه کوی نو خما حلقے له ئے راکړئی نو زه ئے کوم - زه دلته کښی په هاؤس کښی اعلان کوم چه دا پولونه دِماته راکړی-

جناب سپیکر ، پیر محمد خان، بیا خو بجلو والا ئے په سلو کالوکښی هم نه کوی - ولے چه دا خو به کوی هم ستاسو په سرو باندے او نور بیا ته په خپله بنه پوهه ئے چه څه کیږی -هغه پیسے چه کومے دی نو هغه بیا اخوا ته لاړے

شي، هغے فنډ ته -

جناب پیر محمد خان ، په پانچ سو کښې سپیکر صاحب سو ماله راکړئی زه به ئے په خپل خرچ باندے اوکړم حکومت به ترینه بالکل خلاص وی او ماته به منظوره وی او په ما باندے به ئے احسان هم وی- دے ته دوی تیار دی -

وزیر آبپاشی و آبنوشی ، جناب سپیکر صاحب -

جناب سپیکر ، عاشق رضا سواتی به هم خپله خبره اوکړی - بیا به جائنټ جواب ورکړئی-

وزیر آبپاشی و آبنوشی ، ښه جی -

جناب عاشق رضا سواتی ، مهربانی سپیکر صاحب ، ځنګه چه پیر محمد خان صاحب اوونیل د ظاهر شاه خان د سوال متعلق- دغه شان خما په حلقه کښې هم سارے چه سو کهمبے تلے وے جی او خما په خیال په هغے کښې پنځوس لګیدلے دی او نورے دغه شان پرتے دی او ماسره دا یو درخواست دے

( درخواست دکهاتے هوئے ) دا هلته یو کلے دے هغے کښې مسمی صداقت حسین ولد عبدالمالک - ده پنځه کهمبے په ویلډنګ مشین باندے کټ کړی دی او په دویم چهت کښې ئے بره ، دویمه ستوری ئے جوړه کړے ده او د هغے په لنټر کښې ئے اچولی دی- زه ستاسو په وساطت سره د وزیر نه دا درخواست کومه چه د هغوی خلاف دِ څه کارروائی اوکړی-آیا که دوی کارروائی کوی نو زه به دا درخواست وزیر صاحب ته اورسوم نو د صداقت خلاف دِ کارروائی اوشی چه آئنده د پاره د ملک د سامان ضیاع او نقصان او نه شی - مهربانی جی -

جناب کریم خان بابک ، جی په دے کښې خما ضمنی سوال دے - چه په

1994-95 کښې خموږ په علاقه کښې هم ضمنی الیکشن وو او خما تقریباً 47 کلی اوس هم ----

جناب سپیکر ، خکه دِ ضمنی سوال هم اوکړو -

جناب کریم خان بابک، اوس هم جی 47 کلو ته ستنے لګیدلے دی تارونه پرے شوے دی ټرانسفارمرے چا ته تلی دی او چاته نه دی تلی او لاتراوسه پورے هغے ته لا څه بندوبست نه دے شوے - چه د دے باره کښې څه ----

جناب غفور خان جدون ، جناب سپیکر صاحب، دوی خو د تارونو او د ټرانسفارمرو خبرے کوی-----

جناب سپیکر ، د ماچسو کارخانے ته خو د بجلئ ضرورت نشته دے کنه -

جناب غفور خان جدون ، هغوی ته هم شته دے جی ، بیګا جی زه تاسو ته عرض کوم چه ګدون امازئی کښې رحمان وولن مل ته اُور لګیدلے وو او سحر سوا پانچ بجے مو مرکړو - د مردان، نوښار او هری پور نه ئے ورله فائر بریګیډ ګاډی را اوغوښتل، د هغے په وجه سوا پانچ بجے پرے معمولی غوندے قابو واچولے شو او بجلئی والا غائب وو، متعلقه افسران غائب وو هغه خبره خو پریږده د دوی تپوس مه کوئی د واپډے والا - زه عرض دا کومه جی وزیر صاحب په دغه باندے چه دوی وائی چه کهمبے او ټرانسفارمرو بندوبست به کوؤ جی زه وائمه چه کومے ټرانسفارمرے خرابے شی، واپډے والا هغه نه سموی بلکه زه درته وانم چه خما په حلقه کښې اوس درے میاشتے اوشوے چه بجلی نشته دے په ډیرو کلو کښې درے درے خله ټرانسفارمرے ورله موږه په خپلو پیسو سمے کړے او ،واپډے سره دومره پیسے نشته چه د هغے ټرانسفارمرو هغوی مرمت اوکړی او

دوی واتی تارونه دِ اولڑی، کھمبے دِ اوکاڑی، بلکه دوی مونږ سره دا وعده کڑے وه په دے اسمبلئ کښ په روستو سیشن کښ چه مونږه به واپډے چیئرمین صاحب راغواړو هغه د دے صوبے نه دے جی۔ خما په خیال یوه میاشت تیره شوله او نور به دا یو کال خو خمونږ تیریدو والا دے۔ یو کال کښ خو دی ممبرانو ته هغه رانغلو جی۔ مونږه د ا درخواست کوؤ دے وزیر صاحب ته چه مهربانی دِ اوکړی د واپډے چیئرمین صاحب سره د دوی خبرے اوکړی او را او دِ تے غواړی په دے سیشن دوران کښ۔ خمونږ چه کوم مشکلات دی، تکالیف دی چه هغه مونږه د هغه په مخکښ پیش کړے شو چه څه د دوی نه کیږی ولے چه حالات خو ټهیک نه دی ټولو ته پته ده چه څه کیدے شی چه لږ ډیر خمونږ هم په حلقو کښ کار اوشی او خلق هم خوشحاله شی۔

جناب احمد حسن خان ، جناب سپیکر، دے سلسله کښ دا عرض دے که د ضمنی الیکشن په حواله سره دی یا نور لکه مثلاً خمونږ په حلقه کښ خو دا ضمنی الیکشن نه وو۔ په دے ترقیاتی عمل کښ د واپډا ډیرو کلو باندے کار شروع شوے دے په سوونو Incomplete پراته دی۔ زه ستاسو په وساطت سره دا عرض کوم۔ چیف انجینیئر صاحب له زه هغه بله ورځ ورغلے وومه د هغوی هغه رویه یا د هغوی هغه طریقه کار دومره ښه وو، د هغوی هغه مجبوری دا وه چه دلته هغوی څه نه شی کولے جناب سپیکر، زه ستاسو په وساطت سره د حکومت نه او د وزیر صاحب په وساطت سره د صوبائی حکومت ، چیف منسټر یا وزیر صاحب دِ مهربانی اوکړی دا چیئرمین صاحب دِ یو خل را اوغواړی چه مونږ خو وینو او وائی د دے صوبے سره

تعلق لری نو کیدے شی چه خمونږ سره نے همدردی هم وی- مونږ بجلی پیدا کوؤ، مونږ په تیاره کښ دغه یو خدائے دِ کړی چه د هغه په زړه کښ د دے صوبے سره همدردی پیدا شی- د لاهور په خانے باندے د پیښور نمائندگی اوکړی

<u>جناب ہمایوں سیف اللہ خان</u> ، جناب سپیکر صاحب ! عفور جدون صاحب نے ابھی فرمایا ہے کہ چیئرمین واپڈا کو بھی بلایا جائے تو میری ایک چھوٹی سی ریکویسٹ ہے جی وہ بھی شامل کر لی جائے اور وہ یہ ہے جناب کہ اس دن آپ نے دیکھا ہوگا کہ اخباروں میں بھی آیا ہے کہ ایک Sign ہوا جی' پیہور کینال کاایک برٹش کمپنی کے ساتھ تو میری اتنی ریکویسٹ ہے سر کہ 1971 میں مفتی محمود (مرحوم )صاحب اور خان عبد الولی خان صاحب نے زور دیا کہ وہاں رائٹ بینک کینال بنائی جائے اور اس وقت مرحوم بھٹو صاحب نے ان کی بات مان لی اور وہاں پر کام بھی ہوا ہے اور تقریباً آدھا کام ہو چکا تھا کہ اس کو بند کر دیا گیا اب 26 سال کے بعد پھر یہ کام شروع کر رہے ہیں اور اب پھر چار سال لگیں گے تو مطلب یہ ہے کہ تیس سال کے بعد ہماری اسی ہزار ایکڑ زمین جو وہاں پر پڑی ہے- صوابی میں یا مردان میں اس کو ابھی پانی ملے گا تیس سال کے بعد تو میں صرف یہ پوچھنا چاہونگا جی کہ اتنی Delay کیوں کی گئی ؟ آخر کیا وجوہات تھیں ؟ کیا ہم پاکستان کا حصہ نہیں ہیں ؟ ہم سب کو سوچنا چاہیے ------ ( تالیاں ) اس سے پہلے میں جناب یہ بات کرنا چاہونگا' خفا نہ ہوکوئی بھائی کہ پیہور کینال پر 1950ء میں کام شروع ہوا تھا In 1950 اس وقت قیوم خان صاحب یہاں پر تھے اور ساتھ ڈرین کمشنر تھے غلام اسحاق خان صاحب اور حفیظ پیرزادہ صاحب کے والد ستار پیرزادہ صاحب تھے - انہوں نے دس لاکھ روپے دیئے تھے ..To grow more food تو اس میں یہ کام شروع ہوا تھا - جب Right establish ہو گیاRiver Indus کے اوپر تو اس کے بعد خان

عبدالولی خان اورمفتی محمود صاحب نے وہاں ٹنل بنوائی اور اس کو 26 سال ہو گئے ہیں
اب سر! یہ سوچنا چاہیے کہ 26 سال کے بعدہمیں یہ حق مل رہا ہے

جناب سپیکر ، جی نیک عمل خان

جناب ہمایون سیف اللہ خان ،۔ مطلب یہ ہے کہ اب تو Sign ہوا ہے اور پھر بھی چار سال لگیں گے تو ہم سب کو سوچنا چاہیے کہ ہمارا جو حق ہے 'جو ہونا چاہیے اس کی انکوائری کرائیں سپیکر صاحب اور اس ہاؤس کو بتائیں کہ Why 26 years have been spent, Thank you very much.

جناب سپیکر، اوشو جی، تھینک یو۔

جناب نیک عمل خان ، جناب سپیکر صاحب ! دا خو د دے نورو د پاره به چیترمین صاحب راغواړی، خبره لا کیږی خو دلته چه خمونږه د ا چیف صاحب ناست دے ا و دا کله چه په کلو کښ ټرانسفارمرے ورانے شی نو هغه دغه ئے نه جوړه وی بیا خلقو ته وائی چه تاسو پیسے راټولی کړنی او خان له به دا ټرانسفارمر پخپله جوړ کړنی ، که پخپله نے نه جوړه وی نو میاشت میاشت جی هغه ټرانسفارمرے دغه شان پرتی وی۔ هغه غریبانان مجبور شی او هغه پیسے راټولی کړی او بیا خان له هغه جوړه وی هغه بل چنیرمین صاحب خو چه به راغوا ړی هغه خو به راغواړی او بیا به چرته د هغه سره خبره کیږی، په دے اسمبلئی کښ دا څو خله Discuss شوه دا څیز او دے خلقو ته ئے اووے خو اوس چیرمین صاحب به خدائے خبر چه کله راځی - خمونږ یو لیفټ ایریگیشن سکیم دے هم دغه شان پروت دے - د چیئرمین صاحب په وجه۔

جناب سپیکر ، سبحان خان

جناب عبدالسجان خان ، شکریه سپیکر صاحب، زه هم د دے ظاهر شاه خان د دے سوال نه فائده اخلمه او زه چه پکښې د خپلے حلقے خبره کوم نو اول به ستاسو د حلقے خبره هم اوکړم ځکه چه ستاسو اکثر داسے گیله وی -

جناب سپیکر ،او پرون هم جلوس وتے دے-

جناب عبدالسجان خان ، آو جی ،خو ورسره ورسره اصلی خبره دا ده چه خمونږه په حلقه کښې هم دغه شان په الیکشنونو کښې پولونه او ټرانسفارمرے غورزیدلے دی خو لا په هغے باندے تاروونه نه دي راښکلي شوے، څه تیروختکښې د ایم این ایز او د سینیټرز فنډ نه مونږه کاروونه کړی دی، هغے باندے هم لا کار نه دے شوے- هغه شان زوړحالت دے - ستاسو حلقه کښې به هم وی، ښکاره مثال دے نو خو ورسره ورسره سر خمونږ د اوسئی د گرډ سټیشن، دا مخکښې ما په دے اسمبلئی کښې سر گزارش کړے وو چه که چرے د جلاله گرډ سټیشن چه د هغے ټرانسمیشن لگول دی هغه چالو شو نو بیا به مونږ ته دومره تکلیف نه وی نن د اوسئی په گرډ سټیشن کښې سر چه کوم لوډ شیډنګ دے - خما په خیال پیښورکښې خو چه مونږ ه دلته یو نو لا مونږه ته ډیر کم څه لس پنځلس منټه وی نو چه دا مهربانی اوشی چه ستاسو په وساطت باندے زه واپډے حاکمانو ته دا خبره رسَول غواړم چه لوډ شیډنګ ټهیک ده که مجبوری وی خو دا راتلونکے میاشت د روژے ده، ډیر لوئے تکلیف دے جی او په گهنټو گهنټو باندے صرف خمونږ په اوسئی گرډ سټیشن باندے لوډ شیډنګ دے- نو چه دا مهربانی اوشی چه دغه لوډ شیډنګ کم شی-

جناب افتخار احمد خان ، ،شکریه سپیکر صاحب، د دے سوال نه به مونږه هم لږه

فائده واخلو، دا خما حلقه شبقدرکښ تقریباً د درے میاشتو نه کیږی چه بیس پچیس ایم وی ټرانسفارمر راغلے دے او په هغے باندے تقریباً پانچ لاکھ روپئی کرایه لګیدلے ده۔ هغه اوس د پنځوس زره روپو په وجه باندے بند دے، لا لګوی ئے نه۔ ما د واپډے ایکسئین صاحب ته اووے نو هغوی وائی چهپنځوس زره روپئی پکار دی نو بیا زه چیف صاحب له ورغلم او هغویراته اووئیل چه یره مونږ به پی ډی اسلام آباد والا ته اُووایو، نو مهربانی دِ اوکړی چه دا بیس پچیس ایم وی ټرانسفارمر د دے روژے نه مخکښ اولګوی۔ نو مونږ ته به د لوډ شیډنګ مسئله لږه حل شی۔

جناب سپیکر، جی سید احمد خان صاحب۔

جناب سید احمد خان، جناب سپیکر ! میں اس سلسلے میں درخواست کرونگا کہ ضلع چترال کے تحصیل دورش میں پچھلے سال سے بجلی بالکل نہیں ہے۔ وہاں واپڈا اور شیڈو مشترکہ بجلی چل رہی تھی لیکن ایک سال سے کام بند ہے، لوگ اس سال جون میں سڑکوں پر آئے تھے ہم نے ان کو بڑی تسلی دی اور Law and order situation پیدا نہیں ہونے دی ۔جناب وزیر اعلیٰ صاحب کی سفارش پر پرائم منسٹر پاکستان نے کافی پیسہ اس کے لئے دیا ہوا ہے 61 لاکھ روپے ہیں۔ لوگوں نے زمین بھی ٹرانسفامر لگانے کے لئے دی ہوئی ہے۔ ابھی رمضان کا مہینہ شروع ہو رہا ہے اور سردی بھی ہے لیکن واپڈا خاموش بیٹھا ہوا ہے سر! میں آپ کی وساطت سے ان سے یہ درخواست کرونگا کہ وہ اس پر جلدی کام شروع کرا دیں بلکہ رمضان سے پہلے، کیونکہ خدا نخواستہ اگر حالات پھر قابو سے باہر ہو گئے تو میں اس کا ذمہ دار نہیں ہونگا بلکہ واپڈا ذمہ دار ہوگا ۔ یہ درخواست میں آپ کی وساطت سے کر رہا ہوں۔

جناب سپیکر، جی نجم الدین خان، دا سپلیمنټریز دی ټول اوګورنی۔ د دے

سپلمنٹریز دغه ته اوګورئی جی۔

جناب نجم الدین ، سپلیمنٹریز دی جی۔ زه اول په دے باندے د خوشحالئی اظهار کوم جی، لکه سبحان خان چه اووئیل چه په ضمنی انتخاباتو کښی خونړه په حلقو کښی هم ستنیے لوید لی دی ښکه جی د دے خبرے نه مخکښیدوی دغه وو جی چه نه دی لویدلی --------

**Mr.Abdul Subhan Khan:** Personal explanation Sir,

جناب نجم الدین ، ښما هغه خبره دِ واوری جی، بس دغه ښیز دے جی، د مسلم لیګو دغه حالات دی سر، چه خبره کوئی دوی نیغ راپاسی او د سرِی سره جهګړه کوی۔ جهګړه به مونږه سره نه کوئی، خبره به اورئی جی۔ په دے باندے زه د خوشحالئی اظهار کومه که خونړه په ضمنی انتخاباتو کښی پولونه لویدلی دی نو سبحان خان هم اقرار اوکړو او دا ډیر ښه کار دے جی مونږ د دے دغه نه یو چه د دوی په انتخاباتو هم پکاردا ده چه خلقو د بجلئی دتارونو او د ستنو کار اوشی خو ښما ریکونسټ دا دے سر ۔لکه ښنګه چه ظفر صاحب اووئیلے د دروش متعلق، دغه جی سعید احمد خان صاحب یادوومه جی، *I am sorry sir* ښما نه نوم اکثر، ښما مشر دے او ورور مے دے جی ۔ ښما عرض دے چه هلته په کورټ کښی -------

جناب عبدالسبحان خان ، سردے خو لکه دا زنانه خپل عمر ډیر کم ظاهره وی هر یو ته لاله وائی---

جناب نجم الدین ، سر، دا خبره تاسو د خان سره نوټ کړئی جی چه سبحان خان په کلے کښی په لکهونو ستنیے غورزیدلے دی په ضمنی انتخاباتو کښی جی

جناب سپیکر ، نجم الدین خان **Persnal explanation** ورکړئی بس اوشو

جیجناب عبدالسجان خان ، سر، دا ما چه کوم گزارش اوکړو دا ما د سینټ د الیکشن اوکړو- خمونږ په وخت کښې په الیکشن کښې غورزیدلی دی د میر افضل خان مرحوم په الیکشن کښې غورزیدلی دی-

جناب نجم الدین ، د سید احمد خان صاحب خبره ما اونه کړه جی-

جناب سپیکر ، داسې کار دے جی دا راغونډه وو- وزیر صاحب ( قطع کلامی ) زهیوه خبره ستاسو نوټس کښې راولم، خما خیال دے د دے ټولو ممبرانو هم دغهیو پرابلم دے، د بجلئی هر چا ته معلوم دے- په اخباراتو کښې هم روز راځی دغه هم کیږی- ښه صورت دا دے که دوی چرته څه داسې Arrangement اوکړی لکه څنګه چه دا پکښې مخکښې خبره اوشوه چه چیئرمین واپډا دِ را اوغوښتے شی او د دے خانے دا چیئرمین دِ هم راشی، خمونږ چه کوم ایریا چیئرمین دے چه هغه هم راشی ولے چه ده ته هم ډیر تکلیفونه دی- دے وائیچه د یوے ستنے د پاره هم ما سره اجازت نشته- زه د یوے ستنے د پاره هم پنجاب ته لیکم- بیا خمونږه د نوښار سټور ته راځی او بیا د هغے نه تقسیم کیږی- نو چه د د ے څه وضاحت اوشی او خپلو کښې هغوی کینی جی-

جناب غفور خان جدون ، زه سپیکر صاحب ! یوه خبره کوم ، دوی چه خبره کوی کنه- زه یو عرض کوم که تاسو یو قرارداد دا خراب ټرانسفارمرز چه څومره په دی صوبه کښې خراب دی او ډیرو کلو کښې بجلئی نشته دے- که پهدے یو قرارداد پاس کړئی او واپډے ته یو پنځلس ورځے ټائم ورکړنی نو دا خرابے ټرانسفارمرے خو به سمے کړی کنه جی- دا بده خبره خو نه ده کنه جی- دا ډیر لوئے تکلیف دے، خلق کنځل کوی- وینا ګانے مونږ ته کوی

جی، روزانه مونږه پکښې چندے اَچوؤ او په ټولو کلو کښې ټرانسفارمرے خرابې دی۔ او ټولو خلقو ته وائی چه سل سل دوه دوه سوه روپئی راغونډ وی جی۔ هغوی چه ئے ټهیک کړی نو په شپږمه ورځ بیا هغه خراب وی۔ بیاچه دغه کړی نو زه خو وایم چه یو قرارداد پرے پاس کړئی، پنځلس ورځے ټائم دے صوبائی حکومت له ورکړئی۔ دا اختیار خو د ده سره شته کنه دے خو دا، (مداخلت) نه جی دا خرابې ټرانسفارمرے چه کومے کلو کښې لګیدلی دی د هغے د مرمت د پاره خو د دوی سره پیسے شته جی۔ ایکسیئن ته دا مهربانی اوکړئی دا هدایات جاری کړئی او قرارداد پرے پاس کړئی جی نو هغه نور چیئرمین صاحب به را اوغواړئی، لویه خبره خو دا نه ده ۔ یو قرارداد پرے پاس کړئی بده خبره خو دا نه ده ------

جناب بشیر احمد بلور :(وزیر آبپاشی و آبنوشی) زه ړومبئی خبره اوکړم نو بیا به ګورو۔ سپیکر صاحب، خما دغه رونړو په دے خبرے اوکړے چه کوم ما نوټ کړی دی۔ خمونږ عاشق رضا صاحب چه کومه خبره کوی چه هغوی پولونه کټ کړل او لنټر ئے ترے واچولو ، دے باندے به مکمل مونږ هانکوائری کوؤ او پولیس ته به دا لیږم او پولیس به انکوائری کوی او چه چا دا کړی وی، هغوی خلاف به سخت نه سخت ایکشن اغستے کیږی۔ بل خما ورور خبره اوکړه چه دا دومره موده ولے دا ولی خان بابا په وینا دا ټنل جوړ شوے وو او ولے هغے باندے کار اونه شو۔ هغه بد قسمتی دا وه چه هغه یو حکومت هم داسے نه دے کړے چه Water Accord ئے کړے وے نو Water Accord نه وو۔ مونږ سره اونه نه وئے نو مونږ چینل نه شو جوړولے دا د موجوده حکومت د نوازشریف او د اے این پی یو کریډټ دے

چه مونږه Water Accord اوکړو نو هغے نه پس اوس مونږ د دے جوګه شوچه مونږ هغه انډس ریور نه خپلے اوبه واخلو۔ نو په دے وجه اوس مونږ په دے کار شروع کوؤ۔ دا بل خمونږ زور وانی چه پیښور کښ لوډ شیډنګ نه کیږی۔ دا مونږه دلته پراته یو لوډشیډنګ بهرکیږی نو پیښور ښار کښ هم دومره لوډ شیډنګ کیږی خما حلقه کښ هم چه خلق ورته خا مخا تکلیف کښ، اوس هم هلته خلق شته۔ دویمه خبره خما زور اوکړه چه د ټرانسفارمر مونږ سره پیسے نشته، ټرانسفارمر نه شو ټهیک کولے نو دا به څنګه، بد قسمتی دا ده چه خمونږ دا واپډا چه ده،دا چه هر یو حکومت راغلے دے دا هغه Politicalize کړے ده۔ او چه یو شے Politicalize شی نو هغه تهس نهس شی او لکهونه او کروړونه روپئی هسے ضائع شی ،چه چرته الیکشن وی هلته سامان اوغورزیږی پولونه اوغورزیږی ، د هغے نه پس ټرانسفارمرے اوغورزیږی نو بیا که الیکشن اوګټی که اوبائیلی بیا په هغے باندے څوک ایکشن نه اخلی ۔ما تاسو ته مخکښ هم عرض کړے وو چه ما فیډرل منسټر واټر اینډ پاور سره پرسنل خبره هم کړے ده۔ او دچئیرمین سره مو هم خبره کړے ده۔ هغوی ما سره Commitment کړے وو چه هغوی راتلل خو هغه نه پوهیږم چه هغه ورځ خمونږ چهټی وه، دا خما خیال دے د موټروے نه یو ورځ مخکښ وروستو، داسے خبره وه۔نو ما اووئیل چه خمونږ چهټی ده مونږ خلق نه شوغوندولے، نو هغه ماسره دا لوظ کړے وو چه انشاللہ دے سیشن کښ به راځی ۔ زه بیا نن خبره اوکړم اوانشاالله دا تسلی ورکوم چه هغه به راغواړو او ورته به وایو، خو دا ورسره وایم چه هغه هم څه شف نه شی کولے، ولے چه واپډا اوس هم، دوه

شل اربورو پو قرضداره ده او ماته د غفورجدون صاحب په دے خبره باندے هیڅ اعتراض نشته چه دا یو ټائم تاسو د ټی بریک نه پس کینئی او یو قرارداد دِ اولیکی او دوه کسان دِ، د اپوزیشن نه هم یو کس کینی او یو دِ د گورنمنټ سرے کینی او دوی که دا قرارداد اولیکی نو مونږ. ته هیڅ اعتراض نشته، چه کومے خرابے ټراسفارمرے دی، هغه دِ زر ترزره جو ړکړے شی۔

جناب پیر محمد خان، سپیکرصاحب، د یوے خبرے پکښ دوی جواب اُو نه کړو، لکه -----

وزیر آبپاشی و آبنوشی: په پوائنټ آف آرډر باندے یوه خبره کوم- پلیز-زه دا خواست کوم خپل دے ټولو ملگروته چه دوی دِ نن خا مخا ما ریکونسټ کړے دے، کارډونه هم دوی ته په ټیبل پراتے دی او دا زه زاتی ریکونسټ همکوم، ټول دِ مهربانی اوکړی چه خمونږه د ډنر ته بیگاه له خا مخا تشریف راوړی۔

جناب سپیکر: فرید خان، بشیر خان یو ریکونسټ کوی تاسو خو پخپلو کښ خبرے کونی، بشیر خان وانی چه نن ماښام له د دوی دولت خانے ته تشریف یوسئی۔

وزیر آبپاشی و آبنوشی، دولت خانے ته نه جی، خما غریب خانے ته دے ایم پی ایز صاحبانو ته دا خواست کومه چه ټول دِ تشریف راوړی۔

جناب نجم الدین ، سر، دغه سلسله کښ زه یوه خبره کوم -اوس بیا په دے ټیبلو باندے کارډونه پراتے دی، دا کارډونه دی که هغه بله ورځ مونږ ته ملاؤ شوے وو، هغه کارډونه دی- مونږ ته خو دا نه دے ملاؤ شوے۔

جناب پیر محمد خان، د بلور صاحب دعوت منظور دے سپیکر صاحب!

جناب نجم الدین ، اوس جی گورنئی سر تاسو دا انصاف اوگورنئی جی دا کارډ دلته پروت دے خو په دے میز نشته جی،

وزیر آبپاشی و آبنوشی، څوک به تا غواړی، څوک به تا نه غواړی، په زورد خلقو کورونو ته مه ورخه کنه ۔زه خو غواړم ما خو غوښتے نے ۔(قہقہے)

جناب نجم الدین ، نه، بیا په اسمبلئی کښ جی دعوت مه ورکوئی، نو دا کارډ دے جی ----

وزیر آبپاشی و آبنوشی، دا بل کارډ دے، دا به هغه نه وی۔

جناب نجم الدین ،سر دا راته ښکاری تا راکړو جی----

وزیر آبپاشی و آبنوشی: دا کارډ خو تاته هغه بله ورځ ملاؤ شوے دے۔

جناب نجم الدین : نو بیا ما جی بی بی ته درخواست اوکړو۔ سر دا کارډونه دِ دوی بهر تقسیموی خمونږه سره دوی دا بے انصافی دِ نه کوی۔ دلته کارډونه تقسیمیږی او مونږ ه دِ دغسے پریږدی۔

وزیر آبپاشی و آبنوشی: نه خما کارډ د دوی په ټیبل پروت پروت وو---

جناب نجم الدین ، د دوی په هغه روتنی کښ هم جی خمونږه حصه نشته۔

وزیر آبپاشی و آبنوشی، دا خما کارډ دوی ته پرون ملاؤ شوے دے۔

جناب سپیکر ،یو کس خو دومره وائی کنه ،مهربانی خو ورته اووایئی کنه۔

جناب پیر محمد خان ،مونږه نے شکریه ادا کوؤ جناب سپیکرصاحب! او د ده دعوت منظور دے۔

جناب همایون سیف الله خان، کارډ نے ملاؤ شوے دے او د ټولو نه اول به زه رسمه۔ انشاالله او بغیر کارډ هم رسمه هیڅ خبره نه ده ----

جناب پیر محمد خان، سپیکرصاحب ! همایون خان د دے استعفٰی دا خبره اوریدله ده۔ نن دومره یریدلے دے، ډیرمحتاط دے،گورئی د بلور صاحب په باره کښ (قہقہے)

جناب غفور خان جدون ،سپیکرصاحب!

جناب پیر محمد خان، سپیکر صاحب، د دے یو ے خبرے وضاحت اُونه شو چه بعضوخایونو کښ لکه سا رهے چه سو پولونه وانی پراته دی۔ بعضو کښ سارهے پانچ سو پراته دی، دا به هم دغسے پراته وی او ورستیږی به، که نه د دے به څه انتظام،پکار ده چه اوشی۔

وزیر قانون ، ما سپیکرصاحب ستاسو په وساطت دا عرض مه اوکړو چه حکومت کوشش کوی دا خو ما اووے چه Politicalize شوے دے ، کروړونه روپو اربونو روپوسامان پروت دے څوک ایکشن نه اخلی۔ ما د دے د پاره خو دا اووے چه چیف به هم غواړو منسټر به هم غواړو۔ او د هغوی مخامخ دا ټوله خبره Explain کړو چه هرڅنګه وی چه په ړومبی فرصت کښ دا باقی‌خایونه پریږدی، نوے کلو ته دِ نه ورکوی چه کوم زاړه پولونه پراته دی هغے باندے دِ کار اوکړی۔ دا خو ما ونیلی دی او دا به انشاالله هغوی ته به هم دغه شان وایو۔

جناب غفور خان جدون، سپیکرصاحب! زه دا ریکونسټ کوم که دا رولز تاسو Suspend کړئی۔ معصوم غونډے قرار داد دے۔ پنځلس ورځے ټائم ورله ورکړئی، زه دا ریکونسټ کوم که تاسو دا اوس واخلئی۔

جناب سپیکر :داسےکار اوکړئی چه تاسو ریزولوشن په آرام اولیکئی، تیار ئے کړئی نو بیا چه راشی۔

جناب غفور خان جدون: پلیز، دے کښې څه دي جي، دے کښې ------

جناب سپیکر: بیا چه راشو نو Suspend به کړو کنه After tea break-

جناب غفور خان جدون: تاسو واورئی که خوښه مو وی نو بس پیش به ئے کړو- دا دومره لوئے قرارداد نه دے- هسے مونږه اولیکو تاسو واوری-

Mr. Speaker: Is it the desire of the House that rule 124 may be relaxed to allow Mr. Ghafoor Khan Jadoon, MPA to move a Resolution :

(The motion was carried).

Mr. Speaker: "Ayes" have it. Rule 124 stands relaxed. Mr. Ghafoor Khan Jadoon, MPA please.

جناب غفور خان جدون: جناب سپیکر ! یہ اسمبلی صوبائی حکومت سے اس امر کی سفارش کرتی ہے کہ وہ مرکزی حکومت سے سفارش کرے کہ مرکزی حکومت واپڈا کو ہدایت جاری کرے کہ سارے صوبے میں تمام تر خراب ٹرانسفارمروں کی مرمت پندرہ روز کے اندر اندر کر دے اور بجلی کے کنکشن کو دوبارہ بحال کر دے۔" میں نے سارے صوبے کی بات کی ہے۔ معصوم غوندے قرارداد دے۔ خما په خیال څه دغه خو نه دے-

وزیر قانون: مونږ دا غواړو چه دا کومے خرابے ټرانسفارمرے دی دا دِ ټهیک شی او خلقو ته چه کوم د بجلئی پرابلم دے هغوی ته خو دِ ملاؤ شی نوے خلق خو بیا پکښې راځی- مونږ ته هیڅ اعتراض نشته دے، دا قرارداد دِ پاس شی-

جناب پیر محمد خان: جناب سپیکرصاحب! په دے الفاظو کښې لږه غلطی ده د سفارش په ځائے دوی شفارس لیکلے دے- لکه "ش" روستو دے نو دوی "ش"

مخکښې ونیلې دے۔

جناب عبدالسبحان خان، سر یو تکے دے ،بخښنه غوارم دے وانی چه معصوم دے نو هسے نه چه هغوی وانی چه دا معصوم دے کله به لوئیږی نو خما په خیال که د دے په ځائے باندے بالغ قرارداد اُولیکی نو ---

**Mr Speaker** :Is it the desire of the House that resolution moved by Honourble Member Ghafoor Khan Jadoon may be passed?

**(The motion was carried)**

**Mr . Speaker:** "Ayes" have it . The resolution is passed unanimously . Honourable Mian Wali-ur-Rehman Khan , MPA to please ask his Question No.141.

* ۔میاں ولی الرحمان ، کیا وزیر مال ازراہ کرم ارشاد فرمائیں گے کہ :۔

(الف) آیا یہ درست ہے کہ صوبہ سرحد میں زرعی اصلاحات پر عمل درآمد کے لئے مختلف عہدے دار مقرر کئے گئے ہیں

(ب) اگر الف کا جواب اثبات میں ہو تو مذکورہ اہلکاران کی تعداد ' نام بمعہ عہدہ اور ذمہ داریوں کی مکمل تفصیل فراہم کی جائے ۔

جناب فتح محمد خان ، وزیر مال (الف) جی ہاں ' یہ درست ہے ۔

(ب) زرعی اصلاحات قوانین کے تحت صوبائی لینڈ کمیشن نے جس کے چیئرمین وزیر اعلیٰ صوبہ سرحد ' چیف سیکرٹری ' وزیر مال اور سینئر ممبر بورڈ آف ریونیو ممبرز ہیں۔ سینئر ممبر بورڈ آف ریونیو کو چیف لینڈ کمشنر صوبہ سرحد مقرر کیا ہے جو کہ صوبہ سرحد میں زرعی اصلاحات کے نفاذ کے سلسلے میں تمام امور کا ذمہ دار آفیسر ہے ۔ صوبائی لینڈ کمیشن نے اپنے امور بطریق احسن چلانے کے

لئے صوبے کے مختلف افسران کو قانون کے تحت عہدیداران مقرر کرکے اور ضروری اختیارات دیگر ذمہ داریاں سونپی ہیں ۔ چنانچہ نوٹیفکیشن نمبر 187/LC مورخہ 1977-1-19 مسئولہ کے تحت جملہ ڈویژنل کمشنر ڈپٹی کمشنر اضلاع ، ایڈیشنل کمشنر و تحصیلداران کو بلحاظ عہدہ بالترتیب لینڈ کمشنر ڈپٹی لینڈ کمشنر ۔ اسسٹنٹ لینڈ کمشنر اور سب اسسٹینٹ لینڈ کمشنر کے اختیارات تفویض کئے گئے ہیں ۔ چیف لینڈ کمشنر صوبہ سرحد ، انتظامی اور دیگر امور کی نگرانی کرنے کے علاوہ لینڈ کمشنر کے فیصلے کے خلاف Revision نگرانی سننے کا مجاز آفیسر ہے ۔ اسی طری لینڈ کمشنر ، ڈپٹی لینڈ کمشنر کے فیصلے کے خلاف اپیل سننے کا اختیار رکھتا ہے اور ڈپٹی لینڈ کمشنر ، اسسٹنٹ لینڈ کمشنر کے فیصلوں کے خلاف عذداریسننے کا اختیار مند آفیسر ہے زرعی اصلاحات کے قوانین کے تحت متاثرہ زمینداروں کے ڈیکلریشن فارم حاصل کرنے کے بعد ڈپٹی لینڈ کمشنر انہیں ضروری جانچ پڑتال کے لئے اسسٹنٹ لینڈ کمشنر اور سب اسسٹنٹ لینڈ کمشنر (تحصیلدار ) کو بھیجتا ہے اور پھر ڈپٹی لینڈ کمشنر ان ماتحت افسران کی پڑتالی رپورٹ کے بعد ، فاضل زمین کو بحق سرکار صوبائی لینڈ کمیشن ضبگی کا فیصلہ صادر کرتا ہے ۔ بعد میں ڈپٹی لینڈ کمشنر اس فاضل زمین کی تقسیم کے سلسلے میں مستحق مزارعین سے درخواستیں طلب کرتا ہے ۔ درخواستوں کی وصولی کے بعد انہیں ماتحت افسران کو ضروری جانچ پڑتال کے لئے بھیج دیتا ہے جو ریونیو ریکارڈ کی روشنی میں ضروری پڑتال کے بعد دوبارہ ڈپٹی لینڈ کمشنر کو ارسال کئے جاتے ہیں جن پر ڈپٹی لینڈ کمشنر درخواست دہندہ کے حق میں باقاعدہ الاٹمنٹ کے احکامات جاری کرتا ہے ۔ مذکورہ بالا افسران کے علاوہ چند اضلاع میں جہاں ضروری تصور کیا گیا ہے صوبائی لینڈ کمیشن نے اپنے طور پر ایک مختصر سا دفتری

عملہ بھی تعینات کیا ہوا ہے جو کہ منجملہ دفتری امور کے علاوہ ، زمین کی ضبطگی اورتقسیم کے سلسلے میں اپنے افسران بالا کی معاونت کرتا ہے اور ماتحت عدالتوں میں مختلف نوعیت کے مقدمات کی پیروی بھی کرتا ہے ۔

میاں ولی الرحمان ، جناب سپیکر ! جو تفصیل ہے وہ مجھے مل گئی ہے کاغان زرعی اصلاحات کا مرکزی حکومت نے آرڈر دے دیاہے 27، 28 سال پہلے یہ نافذ کی گئی تھی لیکن با اثر لوگوں نے اسکے خلاف ہائی کورٹ اور سپریم کورٹ میں کیس کیا تھا ابھی سپریم کورٹ نے ان مالکان کی درخواست خارج کر دی ہے ۔ مہربانی فرماکرصوبائی حکومت اس پر عمل درآمد کرائے اورجو اہلکار اس میں غفلت برتتے ہیں ان کو ہدایت کی جائے کہ جنہوں نے روڑے اٹکاتے ہیں وہ وہ ناکام ہوں اور اس کو نافذ کیا جائے ۔ شکریہ۔ السلام علیکم ۔

جناب سپیکر ،جی ، اصلاحاتو باره کښې دے جی،

جناب پیر محمد خان ، جناب سپیکر صاحب، په دے خما ضمنی سوال دا دے چه دوی چه دا پوره تفصیل دغه دے خو، د زرعی اصلاحاتو باره کښې دا سوال دوی کړے دے نو آیا منسټر صاحب مونږه ته دا وضاحت کولے شی چه تراوسه پورے دوی په کومو ضلعو کښې او څومره زمکه ضبط کړے ده او هغه بیا نیلام شوے ده، خرڅه شوے ده ۔

جناب فتح محمد خان ، (وزیر جنګلات) ، په دے کښې خو داسے سوال نشته چه څومره زمکه ئے ضبط کړے ده ۔ دوی خو تپوس کړے دے، دا چه کوم دوه تپوسونه ئے کړے دی، دے سره خو د دے هیڅ تعلق نشته که دوی دا غواړی نو دوی دِ نوے سوال اوکړی، د هغے به بیا -----

جناب پیر محمد خان ، ما خو ضمنی سوال اوکړو سپیکر صاحب، دوی دِ بره

داسوال لړ اوګوري، آیا یہ درست ہے کہ صوبہ سرحدمیں زرعی اصلاحات پر عمل درآمد کے لئے مختلف عہدہ دار مقرر کئے گئے ہیں' دوی واني هاں بیا د هغې مخکښې وضاحت کوي او تحصیلدار او داتول نے کړي دي۔

وزیر جنګلات . او د هغې وضاحتونه شوے دي۔

جناب پیر محمد خان ، نو زه وایمه چه تر اوسه پورے، دوي څومره زمکه ضبط کړي ده او څومره هغه زمکه بیا خرڅه شوے ده۔

وزیر جنګلات: دا سوال کوم خانے دے۔ دے کښې دا سوال خو نشته۔

جناب سپیکر: پیر محمد خان، تاسو د دے د پاره نوے Question اوکړنې۔

وزیر جنګلات، دا خو نوے Question دے۔

جناب سپیکر: دا خو ډیره ګرانه وي، دا څنګه دوي تیارولے شي۔

جناب پیر محمد خان، نه ما خو ضمني سوال اوکړو۔

وزیر جنګلات ، دے دِ نوے Question اوکړي نو باقاعده د هغې رپورټ به راوړو او جواب به ورکړو۔

جناب سپیکر ، ضمني دے، خو نوعیت ئے داسے دے چه دا خو بالکل Separate question په دے چه وي نو دومره زیات تفصیل دے څنګه ښو دلے شي څه طریقه باندے۔

جناب پیر محمد خان ، څه معلومات خو به وي چه په دے صوبه کښې څه زمکهضبط شوے ده که نه ده شوے۔

جناب سپیکر، آو، دومره خو به وي۔

وزیر جنګلات، آو جي، ضبط شوے ده، خامخا ضبط شوے ده ۔ ضبط شوے ده

او خانے پہ خانے باندے شوے دہ۔

**Mr Speaker:** Honourable Ghafoor Khan Jadoon MPA to please ask his Question No.270.

*270 جناب عفور خان جدون: کیا وزیر مال از راہ کرم ارشاد فرمائیں گے کہ

الف ) آیا یہ درست ہے کہ پٹواری کا سپے سکیل ۵ ہوتا ہے

ب) آیا یہ بھی درست ہے کہ ضلع صوابی ،مردان کی بندوبست اراضی کا ـ ایس او ایک ہی ہے ؟

ج) اگر (الف) اور (ب) کے جوابات اثبات میں ہوں تو حکومت کب تک بندوبست اراضی مکمل کرنے کا ارادہ رکھتی ہے ۔نیز فاضل سٹاف کو۔کہاں — پر کھپایا گیا ہے ؟

جناب فتح محمد خان : (وزیر جنگلات ) الف ) ہاں یہ درست ہے کہ پٹواری کا سپے سکیل ۵ ہے ۔

ب) ہاں یہ بھی درست ہے کہ مردان صوابی دونوں اضلاع کا مہتمم بندوبست Settlement Officer ایک ہی ہے ۔

ج) بندوبست اراضی کا بقایا کام عرصہ تین سال میں مکمل کیا جائیگا ۔فارغ شدہ بندوبستی سٹاف بالخصوص پٹواری کو بمطابق قواعد اپنے ہی اضلاع — میں منظور شدہ خالی آسامیوں پر کھپایا جاتا ہے تاحال بیشتر پٹواریاں اور دیگر سٹاف کو کام کی تکمیل پر فارغ کیا گیا ہے ۔تا وقت یہ کہ متبادل بندوبست دیگر اضلاع میں شروع نہ ہو ۔

جناب عفور خان جدون، جناب سپیکرصاحب۔ Question No.270 الف ،ب ،ج زہ د منسٹر صاحب نہ دا تپوس کول غواړم چہ ما هغه ورخ هم يو ايډجرنمنټ

موشن د بندوبست اراضی متلعق پیش کړے وو او دوی اوس پخپله وائی چه درے کاله په دے مزید نور لړی- 82-1981 کښ د مردان ډویژن شروع شوے دے-او درے کاله به پرے نور لړی او دا بندوبست اوس صرف خما په حلقه نیابت کښ دے- ما هغه ورخ هم ریکوئسټ کړے وو چه مونږ ته د بندوبست ضرورت نشته -ځکه چه خمونږه بندوبست اوس شوے دے او بل دا ده چه په دے بندوبست باندے اَته کروړه روپئی اولګیدے- اول زمینداران ئے په کورکښ اُنخلول- خما زمکه ئے په تا پسے او ستا زمکه ئے په بل پسے لګولے ده- تپوس والا ترے څوک شته نه، په اټلس کالو کښ ئے خو ریکارډ ټهیک نه کړو- اَته کروړه روپئ پرے هم اولګیدے- د قوم پیسے پرے درے کاله اولګیدے، نو دوی ټائم اخلی په بندوبست باندے،نو د بندوبست نور ضرورت نشته- مهربانی اوکړئی چه دا غلطیانے کومے دے کښ کړی دی نو د هغے د پاره دِ یوه کمیټی مقرر کړی چه دا ټول مردان او صوابئ کښ چه کومے غلطیانے محکمه مال واله پټواریانو کړی دی، هغه دِ کم از کم تصحیح شی چه خلقو او مالکانو ته د خپلو خپلو زمکو خو پته اولګی کنه، او بل عرض دا کومه چه دا پټواریان چه دی دا پانچ نمبر سکیل کښ دی او د دوی قانون دے چه پټواری به د خپلے ضلع وی- پانچ نمبر سکیل د خپلے ضلع دے- خمونږ په صوابئ کښ خو چه څومره پټواریان دی د صوابئ پکښ نشته، هغه ټول د مردان دی- کنی دوی دِ ماته دا اووئی چه دا د مردان دی او که نه دی- پټواریان د صوابئ چه څومره دی- د هغوی تپوس اوکړئ، ډیر شے پټواریان دی خو بندوبست کښ چه دوی څومره لګولی دی هغه ټول د مردان دی- هغه د صوابئ ئے Terminate کړی دی، هغه ئے فارغ کړی دی،

وائی په مخه مو ښه۔ نو د اعرض کومه۔ هغه ورځ هم دوی وعده کړے وه، اوسه پورے په هغے څه عمل درآمد خو اونه شو۔ زه دا وایم چه مردان کښې Settlement Officer چه کوم دے هغه د مردان او د صوابئ دواړو دے۔ دا دِ متعلقه ډپټی کمشنرانو ته دا ذمه واری حواله شی۔ او نور بندونست دِ پرېږدی او خما دا حلقه دِ ترے فارغ کړی۔ مهربانی دِ دا اوکړی، مونږه ډیر غریب خلق یو چه یو بل پسے ټوپکے راواخلو، دوه څلورکنالو مالکانان یو او زمکے یو بل پسے دوی اکثر لیکل کوی، د دوی کار خو دغه دے۔ نو مونږه دِ دے نه خلاص کړی۔ دا ترے غواړم چه د دے ما له صحیح جواب راکړی۔

سید منظور حسین: محترم سپیکرصاحب ! غفور جدون صاحب د مردان نه ګِله اوکړه۔ دا پټواریان چه کوم دوی د نوکرئی نه اوښکی دی۔ نو دا ئے هغه سنیارټی باندے او چه کوم ډیر عمر پټواریان وو هغه نے پرېښی دی۔ او چه کوم د کم عمر وو هغه نے ترے اوښکی دی۔ بهرحال غفور جدون صاحب تهدا درخواست دے چه هغوی د خپلے حلقے د پټواریانو په حق کښې خبره کوی نو کوی دی، مردان دِ په ترځ کښې نه راولی۔

جناب سپیکر: سبحان خان!

جناب عبدالسبحان خان: شکریه سپیکرصاحب! هغه بله ورځ خمونږ ه قابل احترام ورور غفور جدون صاحب د سیټلمنټ متعلق سوال کړے وو او بیا آنریبلمنسټر صاحب دلته وعده اوکړه، خمونږه په مردان کښې خاص کر ما ګزارش کړے وو، په هغه ټائم کښې خما په Constituency کښې او د رضا خان ایم پی اے په Constituency کښې چه څومره سیټلمنټ سر شوے دے، تر

اوسه پورے ټول غلط شوے دے- مونږه بیا د منسټر صاحب په نوټس کښ دا خبره راوسټل غواړو چه دا یو ډیر د فوری نوعیت او توجه طلب مسئله ده- دے له دِ دوی مهربانی اوکړی زر تر زره دِ کمشنر صاحب د ډی سی د سیټلمنټ افسر، خمونږه د ممبرانودِ هغوی سره د یو میټنګ اوکړی چه دا مسئله هغه ته مونږه ټول چه کوم سیټلمنټ هغوی کړی دی، چه هغه غلط ورته پوائنټ آوټ کړو- مونږه هغه کسان هغه مالکان هم راولو چه هغه په سوؤنو باندے دی- نو د دے مسئلے به فوری او اصلی حل راوځی-

<u>وزیر جنگلات</u> ، دا خو څنګه چه غفور خان او سبحان خان اووے چه دوه ورځے مخکښے په دے باندے خبره شوے ده او اسمبلی چُهټی شوے پکښ نه ده- یوه ورځ هم پکښ داسے وخت نه دے راغلے او څنګه چه دوی وائی چه کمشنر به راغوښتل غواړی، ډپټی کمشنر به راوغوښتل غواړی، سیټلمنټ افسر به راغوښتل غواړی، څه کسانو نه به خان پوهه کول غواړی- دوی ته ما وئیلی وو، دوی به پکښ راغوښتل وی نو که تاسو ماته یو درے څلور ورځے په دے راکوئی نو د دے اسمبلئ دوران کښ به ئے اوکړو- که نه مهربانی دِ دوی اوکړی چه کله اسمبلی ختم شی، بیا به راوغواړو-

<u>جناب سپیکر</u>: خما خیال دا دے چه د اسمبلئ اجلاس به د اُنتیس تیس پورے به ختم شی- نو انشاالله تعالی تاسو خپلو کښ ټائم کیږدی او دا به بهتر وی-

<u>وزیر جنگلات</u>: چه ختم شی بیا به ئے فوراً به راوغواړو او نو خو د سیټلمنټ د

پاره یو طریقه کار دے- چه د هغه سیټلمنټ څه طریقه کاردے او قانون دغه

شوے دے او هغه اسمبلی دغه دے۔ هغه دا دے چه هغه پټواریان لاړ شی او هغوی هغه زمکے دغه کړی هغه بیا ګرداور ورسره وی هغه ته اپیل کیږی۔ بیا تحصیلدار وی، هغه سره درخواست کیږی۔ بیا سیټلمنټ افسر وی هغه ته کیږی او بیا بورډ آف ریونیو هغه ته کیږی نو که مونږه وایو چه دا ټول غلط شوے دی او دا اوس پخپله وائی چه د 82 نه شروع دی او تر اوسه پورے جاری دی۔ که مونږه ئے ازسرنو شروع کړو نو بیا به پرے شل کاله لږی۔ که مونږه اوس وایو چه دغه سیټلمنټ غلط شوے دے اوس ازسرنو ئے بیا سیټلمنټ کوو۔ که دوی په دغه باندے خوشحاله وی او تاسو وایئی چه هغه ته ۔۔۔۔۔

جناب سپیکر: نه جی بهتر کورس دا دے چه دوی راغوستل غواړی او هغوی چه هم څه پوائنټ آوټ کړی۔ که څه موقع سره څه دغه کیدے شی۔

وزیر جنګلات: هغه خو ما خبره اوکړه، هغه اوس تاسو او د دوی په مینځ کښې خبره اوکړی که تاسو ماته یو دوه درے څلور ورځے اجازت راکوئ۔ درے څلور ورځے چُهټی راکوئ او که دوی انتظارکوی۔

جناب سپیکر: د اسمبلئ نه بعد ورسره ملاؤ شئ۔

وزیر جنګلات: هغه خو ما خبره کړی وه جی۔

جناب عبدالسبحان خان: دا منسټر صاحب چه کومے خبرے اوکړی جی که غلط کار ئے کړے وی نو مونږه به په غلطو خبرو باندے خو به سترګے نه پټوؤ کنهچه د یو حق دار حق وهلے شوے۔ د یو حق دار حق بل ته ملاؤ شوے وی نو دا اسمبلی خو د عوامو د توجه دعوام د نمائندګئ یو ځائے دے۔ که دوی ته مونږه هغه غلطی په ګوته نه کړو او د هغے مسئلے مونږه حل

راونه باسو، نو بیا به ئے مخوک راوباسی۔ که دوی دا وائی چه یره گرداور صاحب هغه د سره گرداور، که پټواری دے ټول ئے په کرایه باندے راغونډ کړی وو یا هغه اَن ټرینډ کسان ئے راغونډ کړی وو هغه ټریننګ ئے پرےکوؤ۔ د یو انتقال ئے بل پسے شیږولے دے، د بل زمکه ئے بل پسے خیژوله ده، ټول غلطئے کړے دے ، د هغے اصلاح ضروری ده ۔ دا خبره خو نه ده چه هغوی څه اوکړل نو ګنی هغه د قرآن ټکے دے یا صحیفه ده، ګنی هغے کښ به ترمیم نه کیږی۔

جناب <u>غفور خان جدون</u>، زه خو دا عرض کومه چه هغه ټهیک ده په صوابئ کښاو په مردان کښ بندوبست خو اوشو، اتلس شل کاله، خما په حلقه کښ خو اوس شروع دے، خما په ګدون کښ ماته ضرورت د بندوبست نشته جی۔ زه بار بار دا ریکونسټ کومه چه مونږه د جهګړے نه یو۔ دوی له اوکړئی بس هغه خو ټهیک وانی۔ سبحان خان چه کومه خبره اوکړه دا ټهیک خبره ده ، دا ریکارډ که دوی اوکاتو، دے ریکارډ کښ ډیرو غریبانانو خلقو ته پته نشته دے۔ زه عرض دا کوم چه په ګدون کښ بندوبست مونږه بالکل نه غواړو او مونږه ته ئے ضرورت هم نشته او بیا د منظور باچا صاحب ډیر مشکوریمه، خو عرض دا کوم چه پانچ نمبر سکیل سړے د یو ډویژن نه بل ضلع ته راځی نو دا خو هم زیاتے دے ۔ چه یو ضلع کښ موجود وی د هغوی حق جوړیږی او د هغوی حق تلفی کیږی۔ضلع په 88 ء کښ تلے ده، د 88 نه پس صوابئی خان له ده او مردان خان له دے نو پکاردا دی چه خپلے ضلع ته خپل حق ملاؤ شی۔

<u>وزیر جنګلات</u> ۔ څنګه چه دوی او سبحان خان خبره اوکړه، د دوی خبره بالکل

ٹھیک دہ جناب خو د قانو ن پابندی هم به ځه پکار وی، قانونی طریقه کار چه کوم دے یا خو هغه به Adopt کوؤ یا که ورله نوے قانون او نوے طریقه جوړه وی نو ځما خو پرے هیڅ اعتراض نه وو، ماته خو به په اسمبلئ کښې او دوی به حکم او خبره به کوی مونږه په هغه طریقه کوؤ موجوده قانون تحت خو چه ځه قانون دے په هغے کښې چه طریقه باندے کار کیږی هغه به کیږی چه کوم ځائے نه کوم ځائے ته اپیل کیږی اوآخری کوم ځائے دغه وی او په هغے کښې فیصله اوشی په هغه فیصله باندے به عمل درآمد وی۔ دغه ځما په اختیارکښې نشته چه زه د هغوی فیصلے ماتومه او زهاووایمه چه ماته راځئی او ماته اپیل کوئی یا زه ورته اووایم چه د اسمبلئ کمیټی به جوړه کړو، هغے ته کوئی۔ البته که اسمبلی دا غواړی چه مونږه خپلے کمیټئ ته دا اختیا ر ورکوؤ، دوی دِ اختیار واخلی او کمیټی دِ خپله جوړه کړی۔ بیا دِ Settlement دلته کښې کیږی، ماته پرے هیڅ اعتراض نشته۔

**<u>Mr . Speaker:</u> The sitting is adjourned for tea break and we reassemble after thirty mintues.**

(اس مرحلے پر ایوان کی کارروائی چائے کے لئے ملتوی ہو گئی)

(وقفے کے بعد جناب سپیکر مسند صدارت پر متمکن ہوئے)

<u>جناب سپیکر</u> : دا Leave applications move کړم نو که بیا تاسو۔ جن معزز اراکین نے رخصت کے لئے درخواستیں ارسال کی ہیں ان کے اسمائے گرامی ذیل ہیں جناب سلیم سیف اللہ خان صاحب نے 22.12.1997 کے لئے 'جناب وجیہہ الزمان صاحبنے 22.12.1997 تا 23.12.1997 کے لئے جناب عبدالحلیم خان قصوریہ صاحب نے 24.

22. 12. 1997 to 22.12.1997 کے لئے جناب آفتاب احمد خان شیرپاؤ صاحب نے 12.1997 کے لئے ، جناب ملک جہانزیب صاحب نے 22-12-1997 کے لئے It is the d esire of the House that leave may be granted to the Honourable Members ?

(The motion was carried)

Mr.Speaker: Leave is granted.

جناب احمدحسن خان ۔ جناب سپیکر ! دا خو اوشو خو خمونږه دا وروږ محسنعلی خان صاحب د ډیرو ورخو نه نشته دے او مونږه سره د گیان سنگهصاحب ډیر فکر وو او دوی هدو څوک تپوس نه کوی، درخواست نے راغلے دے که نه دے راغلے چه هغه په دے صوبه کښ چرته کښ د انصاف د حصول د پاره گرځی۔د انصاف د حصول هم دا ځائے دے جناب سپیکر --( قہقہے) صوبائی اسمبلی ده۔

جناب سپیکر ، خبره خومو ډیره عجیبه غوندے اوکړه که ------

جناب احمدحسن خان ، داسے چل وو چه کله داسے دا هله کُله جوړه شوه نو د ډیرو خلقو دا خیال وو چه بیا الیکشن کیږی دا مرکزی قائدین په ملک کښ گرځیدل، دا صوبائی قائدین په صوبه کښ گرځیدل او خمونږه هغمخالفینو په حلقو کښ غم وښادی شروع کړے وه (قہقہے) نو چه اوس ورته داوینا پکار ده چه د بلدیاتو الیکشن ستاسو د حیثیت نه دے، واپس اسمبلئی ته راشئی ،

جناب عبدالسجان ، سر دا احمد حسن خان چه کومه خبره اوکړه خما په خیال چه د خمونږ د اسمبلئی د طرفه نه یو اشتهار ورکول پکار دی چه "ہمارا بھائی جہاں بھی ہو جس حالت میں ہو سن کر خدا کے لئے واپس آجائے'

جناب نجم الدین ، جناب سپیکر صاحب! دا خلےچه سیشن شروع شوے دے د گیان سنگھ دا مسئله وه، پکار دا وه چه هغه نن دلته کښې راغلے وے خپل بیان ئے ورکړے وے د خلقو او د اخبار والا د ټولو په ذهن کښې یوه خبره دا ده چه یره څوک یوه طریقه کار باندے د هغے دغه ده چه یره دا په دے دغه باندے اغوا ، شوے دے۔ څوک بل څه وائی خما دا ریکوئسټ دے سر چه هغه راشی او دلته کښې خپل بیان ورکړی او حکومت هم داسے یو طریقه کار جوړ کړی چه د هغے متعلق وضاحت اوکړی۔ هغه بله ورځ په اخبار کښې لیکلی وو چه حکومت 19 لکهه روپئی ورکړے ، بیا مونږه دا هم اوریدلے دی چه نه دا هډو چا اغوا ، کړے نه دے په خپله باندے ناست وو څوک څه وائی او څوک څه وائی، خمونږه دا عرض دے چه د دے خلقو په ذهن کښې د دے خبرے وضاحت اوصفائی کول پکار دی، منسټر صاحب دِ هم صفائی اوکړی او د خلقو ذهن کښې یوعامه، اگرچه حکومت ښه کارکردگی کړے ده سرے ئے راوستلے دے او د دے خبرے وضاحت په کومه طریقه راویستے کیږی

جناب عبدالسجان ، قابل احترام سپیکر صاحب ! گیان سنگھ د دے اغوا ، په وجه د هغه مور ته ډیر زیات تکلیف شوے وو او هغے په تیرو ورځو کښې آپریشن کړے وو چه د دوی دا اغوا ، اوشوه د هغے سترگو ته هم زیات تکلیف وو نو چه تر څو پورے هغه د مور ښپوله نه وو تلے د هغے treatment نه ووکړے او هغه څه پته خبره نه ده۔ د گیان سنگھ په سرکښې هیڅ چه څه پیسے نه دی ورکړی نو گورنمنټ ورکړی نه د گیان سنگھ داسے څه مالی پوزیشن شته، څومره خبرے چه شوے دی، ما هغه بله

ورخہم گزارش کړے وو چه یو طرفته که صحافی او صحافت رونړو چه هغه د ستنے حیثت لری هغوی خمونږه سره په دے کښ همدردانه رویه اختیار کړے ده نو بعضِ چه خما ورور افتخارحسین او سلیم په هغے کښ Privilege motion move کړے وو - بعضِ رونړو خمونږه په زخمونو باندےمالگے دوړولے دی- گیان سنگھ ځه لکھ پتی نه دے، ځه کروړپتی نه دے یو عام سړے دے، خو راغلے شوے وو، د هر ځه د پاره چه تللے شوے وود تاوان د پاره، هغے د پاره یو پیسه نه ده ورکړے، د حکومت په کوششونو باندے، د وزیراعلٰی صاحب په کوششونو باندے هغه راغلے دے او انشاء اللهٔ را به شی خپل موقف به دلته کښ بیان کړی-

<u>جناب سپیکر</u>،جی میاں صاحب مخکښ پاسیدلے دے-

<u>میاں افتخارحسین</u> ، جناب سپیکر صاحب، سبحان صاحب چه څنګه خبره اوکړه، ما هم دغه وضاحت کول غوښتل چونکه مونږه او هغه چه څه وخت راتلو نو مونږه ورسره وو او هغه پریس سره خبرے کړی دی، دا ځه چه د نجم الدین په زړه کښ خطرات دی، د هغوی وضاحتونه هغه مکمل کړی دی او په پریس کښ هغه راغلی دی دغه یو Privilege motion چه مونږه ورکړے وو د پریس د رورنړو مونږه هم مشکور یو خو یو دوه خبرے پکښ داسے راغلے وے چه د هغه په حواله باندے ئے غلط فهمی پیدا کړے وےمونږه غوښتل چه د اسمبلئی په فلور باندے د هغے وضاحت اوکړو نو هغه په دے بنیاد باندے مونږه خبره کول غوښتل چه کله یو سړے په یوحرکت کښ Involve نه وی نو د پریس رونړو ته درخواست دے چه اندازے دِ نه لګوی څنګه چه په داسے حالاتو کښ چه د یو سړی سیاسی زندگی

وی، سیاسی ترون ئے وی او د دے اسمبلئی باعزته ممبر وی د هر چا احترام پکار دے خو د هغے سری سره چه د ډیرو خلقو توقعات وی داسے خبر نه دے پکار، چه د هغوی مور ئے هم په خراب حالت کښې وه، د هغوی مشران هم ډیر په تکلیف کښې وو او چه کله د هغه د اغوا ء سره سره دا خبر راغلو چه هغه خود Smuggling په دغه کښې Involve دے ځکه اغواء شوے دے- هغوی ته ډیر تکلیف وو نو په دے وجه هغه د اسمبلئی اجلاس ته رانغلو او هغه اُووے چه دا غلط فهمی زر تر زره ختمه شی نو پریس ته هغه خپل بیان ورکړے دے، پریس ته مخامخ شوے دے او بیا چه کوم دے هغه د دے ځائے نهلارډے او کورته چه مور ته تکلیف وو چه هغه تکلیف نور زیات نه شی ډیره مهربانی-

ارباب محمد ایوب جان :جناب سپیکر صاحب، څنګه چه میاں صاحب اووے جناب چیئرمین نجم الدین صاحب چه څه خبره اوکړه، ځما په خیال نجم الدین صاحب به ننی اخبارونه نه وی کتلے ----(مداخلت)

آواز : ټهیکیدار اوویه-

ارباب محمد ایوب جان: نه جناب چیئرمین صاحب دے، ټهیکیدارنه دے خو نه دے، ماته خو پته نشته نو هغه جناب سپیکر صاحب ټول اخبارونه نن ډک دید گیان سنگه بیان نه، ځما په خیال هغوی پریس کانفرس به هم کړے وی او هغه د هغے پوره وضاحت کړے دے چه د څه غلط فهمئ په وجه باندے زهبوتلے شمه او زه چه واپس، د بونیر او Sikh Community څومره چه ده هغه ټول ورپسے راغلی وو چه ته راشه خلق درته انتظارکوی او هغه به سبا یا بله ورځ راشی او خپل وضاحت به اوکړی خو د هغے نه علاوه جناب سپیکر!

يو خو زه د حکومت ډیر مشکور یم، د هاؤس ممبران هم مشکور دی او یو جناب سپیکر You are the custodian of the House ستاسو هم زه ډیر زیات مشکور یمه، مونږه به هر وخت تاسو سره ډیر زیات Co-ordination وو، رابطه وه، تاسو آن دی فلور آف دی هاؤس هم دا خبرهکړے وه که هر وخت، که شپه وی دولس بجے وی که یو بجه وی، دوه بجے وی Local administration او هر چا سره رابطه ده نو مونږه On behalf of the Member of Provincial Assembly I am really thankful to you Mr. Speaker sir, that you have played a very good role. او لکه څنګه چه خلق وائی چه Custodian of the House سپیکر یو Custodian of the House وی نو زه هم د خپل د زړه د اخلاصه ستاسو شکریه ادا کومه او دا جناب سپیکر صاحب یو ډیر نازک حالات وو چه د اسمبلئ سیشن جاری وو او ګیان سنګهه سره دا واقعات وشو خو حکومت، کارکردګی او ورسره ورسره تاسو کارکردګی د دے دوارو که زه ستائنه اونکړمه نو دا به ښه کار نه وی- نو جناب سپیکر صاحب، د الله تعالی ډیره مهربانی ده چه هغه واپس راغے او خما دا ډیر امید دے چه جناب چیئرمین نجم الدین صاحب ته به سبا یا بله ورځ د خپلو خیالاتو اظهار اوکړی او دوی ته هم تسلی ورکړی- شکریه

-

جناب سپیکر : دا نجم الدین خان مخکښ پاسیدلے وو- نجم الدین خان!

جناب نجم الدین : سر خما عرض دا نه دے، ګیان سنګهه خمونږه دوست دے مونږه د هغه په اغواء باندے خفه یو مونږه احتجاج هم کړے وو خو تښتولےشوے ګیان سنګهه دے، د هغه په Statement کله سبحان خان

ورکوی، کله بل ورکوی مونږه دا وایوسر! چه دے اخبارونو مختلفے رائے ورکړے دی په هغے کښې دا رائے هم شامل ده، لکه اوس چه دوی اُووے چه غلط فهمی ده، مونږه غلط فهمی نه منو، غلط فهمی څنگه؟ یوایم پی اے لس روخے غیب کوی، په کمره کښې ئے بند کړے دے، په غلط فهمئ کښې غیب شوے دے، هغملزمان چه کومو کسانو دے تښتولے دے، پکار دا ده چه د هغے خلاف ایکشن واخستے شی، په اخبار کښې دا هم لیکلے دی چه ایف آئی آر واپس اخستے شوے دے، ایف آئی آر چه کوم درج شوے دے هغه هم واپس اخستے شوے دے۔ خمونږه دا عرض دے چه د دے ټولو وضاحت کول پکار دے او په داسے طریقه باندے پکار دے، خامخا د خلقو په ذهن کښې شکوک وشبهات پیدا کیږیکم ازکم خمونږه ممبر صاحب چه کله د دے خائے نه تلے دے، د هغه سره زیاتے هم شوے دے--------

جناب سپیکر ، نجم الدین خان یو منټ، اخبار والو ته ما څو څو خله دا ریکونسټ کړے دے په Private Capacity کښې، حالانکه زه د دوی په دے دغه کښې، څو څو خله مے ورته وئیلی دی چه د رب خاطر اوکړئی یو قانونی مشیر خان سره ساتئی چه تاسو پوهوی- هر یوخان نه بروهی جوړ کړے دے۔ ایف آئی آر واپس څوک اخستے هډو شی نه، ایف آئی آر چه یو خل رجسټر شی خو خدائے دِ خمونږه د دغه مل شی نو چه دا خمونږه صحافت دے، زر زر خله مے ورته وئیلی دی په Private Capacity کښې، چه د رب خاطر اوکړئی چه نه پوهیږئی نو پوهیدونکے یو سړے د خان سره اوساتئی خو بهرکیف اوس اخباروالو ډیر زیات تجاوز شروع کړے دے په دے خپل صحافت کښې، هغه دغه ته نه راځی، نو زه کوشش کوم چه د دوی

برخلاف څومره Privileges motions راځي زه هغه مزا په مزا هغوی ته وایم چه پریږدئی خیر په خیر دے او په Private Capacity کښې ورسره کوم، اوس رو رو دا څیز پکار ده چه راشی او دوی ته هم پته اولګی او قوم ته هم پته اولګی چه دوی څه کوی او خلق څه کوی- د دوی خو بس د توکلږ دے، نی دا په کوم ځائے کښې لیکلی دی دوی نه دا تپوس کوم زه، زه ترینه دا تپوس کوم چه ایف آئی آر څنګه واپس اخستے شی یا خو به کیس Cancel کیږی- ایف آئی آر څوک واپس اخستے شی ولے تاسو داسے صحافت کوئی چه تاسو د الف نه، نه یئی خبر، ضرورت څه دے د دے خبرو د پاره، د خلقو خو د دروغو تاسو قیصے لیکئ، مونږه پرے ټول سترګے پټے کړو، څوک نے اومنی، خو دومره خبره کوئی چه کوم د قانون مطابق خبره وی- هغه خو کوئی کنه، لږ خو د دماغو نه کار اخلئی- څه عجیبه غوندے خبره ده یا خو د اسمبلی دِ کینی او دوی له دِ یو Standard مقرر کړی، بالکل نه دی پریښودل پکار داسے خلق په صحافت کښې چه د هغوی تعلیم نه وی چه د هغوی دومره عقل او پوهه نه وی- زه خوبه د دے خپلے اسمبلئی ممبرانو ته یو خواست کوم چه په دے باندے یوقانون سازی اوکړی، بالکل دوی د پاره اوس یو چیک پکار دے، دا خو تباهی ده د قوم ،نو---------

<u>وزیر آبپاشی و آبنوشی</u> ،مسټر سپیکر سر، ستاسو په وساطت باندے د نجمالدین خان، د ګیان سنګه خبره خو بله ورځ پوره Details سره Discuss شوے هم ده او هر چا پرے خبرے هم کړی دی خو دا ما په فلور آف دیهاؤس دا تسلی ورکړے وه چه دا هر چا چه اغواء کړے ده د هغوی خلاف سخت نه سخت کارروائی به کوؤ، ملزمان به هم ګرفتاروو، هر څه به کوؤ، داسے هیڅ

خبره نه ده چه مونږه دا به پریږدو او اخبار چه څه لیکلی دی، هغه خپله خبره ده- هغوی ته څنګه چه سپیکر صاحب اوفرمائیل هغه پهخپل ځائے کښې، خو د حکومت د طرف نه داسے هیڅ خبره نه ده چه مونږهد هغوی ایف آنی آر چا واپس کړو یا څه ، البتا مونږ خو Political حکام ته زیات په دے Insist کوؤ چه دا زر تر زره د خلق اوُنیولے شی او د دوی خلاف مونږ سخت نه سخت کاروائی اوکړو داسے هیڅ خبره نشته چه حکومت به په هغوی باندےPressure اچوی- هغه پخپله باندے ایف آنی آر واپس اغستو، څنګه به اخلی ایف آئی آر واپس ؟ او بیا حکومت چه دا تسلی ورکوی او دا یو خبره مونږه بار با رکوؤ دلته کښې، دومره ټائم هم نشته ، مونږه تقریباً هر ورځ هغه اسلامک کونسل راځی هغه مونږه واپس کړو او په دے خبرو باندے وخت ضائع کوؤ، بیا دا خبره کوم چه انشاالله دوی خلاف سخت نه سخت ایکشن به اخلو-

<u>حاجی عبدالرحمان خان</u> ، پوائنټ آف آرډرجناب سپیکر صاحب، خبره دا نه ده نجم الدین خان چه څه ونیلی دی، هغے سره زه هم اتفاق کوم، خبره دا ده چه غل سرے اُتختلوؤ، چا اُتختلوؤ؟ ګیان ولے راغے ؟ څنګه راغے ؟ کوم ځائے نه راځی؟ دا لوبه د زور وخت نه مونږه سره راروانه ده چه مونږه زور اولګوؤ نو دومره اوشی چه سرے مونږه له راوستے شی، زه لږ دے اخبار والو ته وایمه لږه مهربانی اوکړنی تاسو خپل مینځ کښې خبره ته شور لاندے راځی ، سرے اُوتختولے شی ، مونږه زور اوکړو ، سرے راوستےشی، چه سرے راوستے شی چه چا تختولے وی نو د هغه پته اونه لګی-اوس د ګیان باره کښې زه هم دا شکی یم چه دا ګیان څنګه تلے وو، یو

خل ما په دے باندے د حکومت وقت سره چه دا خدائے پاک، ما دِ خدائے نه گناه گار وی، خدائے پاک نے غواړی آسمان ته لاړ شی، تاسو مونږه له سړے راولئی او غلے نه راکوئی چه دوی بوتلے وو نو لهٰذا ستاسو په وساطت سره د حکومت دے صاحبانو ته وایو چه مونږ ته هغه سړی اوښایئی، معافبه کړی دا اسمبلی، دا ټول ممبران به ئے معاف کړی۔ گیان به نے معاف کړی خو هغه سړی ښودل پکار دی چه چا تختولے وو، څنگه راغے؟ دا د وخت د سر نه، د ډیرے مودے نه، د ډیرو کلونو راسے دا لار شروع ده۔ سړے راله راولی۔ مونږه شکر دے سړے مو راغے، شکر خو دے خو دا سړے چا تختولے وو؟ څه شو هغه سړے؟ نن بازگل بیان ورکړے دے د ایجنسئ د مخه چه دا خمونږه په علاقه غیر کښ نه وو، سړی دِ معلوم کړے شی، گیانپه خپله بیان ورکړے دے چه زه چه څنگه تاسو اخبارات اوگورئی په هغے کښ لیکلی دی چه زه ئے تختولے یمه او وقتاً فوقتاً ځائے به ئے بدلولو را بدلولو، یعنی پوهه نه شوم په دغه، صاحبه، زه ستاسو په وساطت د حکومت واقدارو ته وایم چه دا سړی پیدا کول پکار دی چه مسئله د عمر د پاره حل شی چه بیا څوک تختیږی نه۔

جناب قیموس خان، پوائنټ آف آرډرجناب سپیکر، خما په خیال پریس والا واک آوټ اوکړو،

جناب عبدالسبحان خان، پوائنټ آف آرډرسر،

جناب سپیکر: پریس والو ټولو له خو واک آوټ کول بالکل غیرضروری وو دا خو هغه کسانو ته Reference دے چه څوک په داسے طریقه باندے داسے څیزونه ورکوی۔ باقی د هغوی خپله خوښه ده ،هغوی خو ناجائزه واک

آوټ اوکړو چه کوی نو دا ستاسو خوښه ده، ځما خو دے سره څه کار نشته،

جناب عبدالسبحان :زه یو گزارش کومه د دے پریس والا متعلق،

وزیر آبپاشی آبنوشی :

وزیر آبپاشی آبنوشی ، پوائنټ آف آرډر سپیکر صاحب، پریس هم خمونږه د Democracy حصه ده او ځما خپل ریکونسټ به دا وی چه انفارمیشن منسټر عبدالسبحان خان او غفور جدون صاحب او عدیل صاحب،څلور واړه دِ لاړ شی، ورسره خبره اوکړئی چه سپیکر صاحب داسے خبره نه ده کړے چه هغوی څه ټول پریس ته خو نه دی وئیلی چه هغه خلق چه کوم خلق Dis-honesty کوی، کوم خلق چه غلط بیانونه ورکوی، کوم خلق چه دځان نه خبرونه ورکوی، تاسو د هغے خلاف خبره اوکړله باقی چه کوم صحافیان دی هغوی باندے خو مونږه هیڅ خبره نه کوؤ هغه خو خمونږه یو حصه ده او د جمهوریت یو ستن دے۔ هغوی مونږه څنګه Ignore کولے شو، ځما به دا خوښه وی چه دا څلور کسان دِ لاړشی او هغوی سره دِ خبره اوکړی ۔

جناب سپیکر ، ډیره ښه ده، ډیره ښه ده، هغه پکار هم ده چه هغوی پخپله هم پوهه وی چه دا چاته----

جناب نجم الدین ، د منسټر صاحب نه اپوزیشن هیر دے، د دے نه دِ پکښې یو کس لاړشی ---

جناب اکرم خان دُرانی ، نه جی تاسو خو ډیر اخلاقی غونډے خبره اوکړله سپیکر صاحب، خو داسے خبره نه ده کړے ۔په د غے باندے واک آوټ پکار نه وو ۔

جناب عبدالسبحان خان : چه هغوی کوم مونږه ته څه اوړي نو بیا پکار ده چه د سپیکرصاحب کومه خبره وه په هغے کښې، هغوی چه کوم څه ونیلے دی د هغوی د قلم نه چه وتی دی، نه ورسره څه ثبوت شته دے، د گیان سنگھ نه ئے، د یو مظلوم نه، چه هغه تبتیدلے شوے وو----

وزیر آبپاشی و آبنوشی . پوائنٹ آف آرډر! زه دا عرض کوم-----

جناب عبدالسبحان خان: د هغه نه ئے سمگلر جوړ کړے دے۔

وزیر آبپاشی و آبنوشی ، سبحان خان، ما خو دا عرض اوکړو چه سپیکرصاحب ښه خبرے کړے دی۔

جناب عبدالسبحان خان، مونږ به خو او ستاسو د حکم تعمیل به کوؤ، د دے ایوان د تقدس د پاره، خو د سپیکرصاحب په خبرو کښې څه داسے خبره نه وه چه هغوی Mind کړه۔

وزیر آبپاشی و آبنوشی، ما عرض کړے دے، دا د حکم خبره نه ده، دا خما عرضدے چه دا جمهوری او تاسو ته پکار ده چه د هغوی سره خبره کونی کنه دا څه خبره نه ده۔

جناب سپیکر: یو منټ جی۔ خبره داسے ده، دومره کار دے چه بشیر خان چه کومه خبره اوکړه نو مونږ به خپل Traditions قائم ساتو، مونږ به بالکل که دوی ناجائز کار اوکړو هم په هغه ناجائز کار هم به خپل Traditions ستاسو،

جناب احمدحسن خان، جناب سپیکرصاحب ! په دے خبره باندے زه مداخلت کوم او معافی ستاسو نه غواړم په دے خبره باندے دلته کښې نوره خبره کول خما خیال دے بهتر صورتحال نه راوړی۔ تاسو چه د کومے خبرے اجازت اوکړو او بشیر خان چه کوم تاسو ته Request اوکړو او تاسو اومنلو، په

هغے باندے دِ عمل اوشی او نوره کارروائی دِ جاری او ساتلے شی۔

حاجی محمد عدیل ، جناب سپیکر! میں بالکل پریس کے ساتھیوں کے پاس جاؤں گا لیکن میری ایک پریویلج موشن ہے ، اور ایسا نہ ہو کہ میں باہر جاؤں اور میری پرویلج موشن بعد میں رہ جائے تو میں باہر جا کر جب واپس آؤں تو مجھے پریویلج موشن پیش کرنے کی اجازت دی جائے ۔

وزیر آبپاشی و آبنوشی ، پوائنٹ آف آرڈر! میں یہ عرض کرتا ہوں کہ یہ پریویلج موشن تب ہی پیش کریں گے ۔ کہ اخبار میں ان کا نام آئے یا ان کی کارروائی آئے تو جنابسپیکر! اس کے پیش ہونے کا کوئی فائدہ نہیں ، اگر یہ پیش کر دینگے تو اس کا کوئی اثر نہیں ہو گا ، تو میرا مقصد یہ ہے کہ آپ جا کر ان کو منوائیں تو اس کے بعد وہ ہو جائے گا ۔

حاجی عبدالرحمان خان ، سپیکرصاحب! احمد حسن خان ته لږ ورشه او ته ورسره خبره اوکړه۔

جناب پیر محمد خان ، یوه خبره ده سپیکرصاحب ، په دغه خبره کښې نور نه خو احمد حسن خان هم خلاصه کړه ، چه څه داسے خبره خو تاسو نه ده کړے خو صحیح خبره مو کړے ده او حقیقت خبره ده۔ خو د عدیل صاحب د استحقاق یو کاپی ماته هم ملاؤ شوے ده نو اوس بیا هغه د پریس خلاف استحقاق پیش کړے دے۔ نو بیا لکه واک آؤټ کوی لکه مونږ د یو بل سره ممبران هر څه چه کوؤ اپوزیشن او گورنمنټ څو مره په دے ته ----

جناب سپیکر ، یو قانونی شے دے اوس هغه پیش کړے دے هغه به راځی۔

جناب پیر محمد خان ، څما دا مطلب دے چه اوس د هغو خلاف یوه خبره راځی نو هغه به بیا هم واک آؤټ کوی که بله ورسره راځی نو هغه به بیا واک آؤټکوی نو څه داسے بده خبره خو نه ده ، جمهوریت دے د هغوی هم حق دے

خو اوریدل هم د هغوی حق دے چه خمونږ خبره واوری او بنه Suggestion تاسو ورکړئی، په هغے هغوی عمل اوکړی لکه څنګه مونږه پرے کوؤ، داسے هغه هم خمونږ رونړه دی پکار ده چه هغه هم ستاسو په خبرو هم عمل اوکړی۔

جناب همایون سیف اللّٰہ خان، سر! تاسو سره ما په چیمبر کښې خبره کړے وه څنګه چه غفور جدون صاحب ډیر Innocent شانتے قرارداد وو، دغه شانتے خما هم یو Innocent قرارداد وو او که ستاسو اجازت وی نو چه درته اووایم جی۔ دوه خبرے دی جی۔

جناب سپیکر: په پوائنټ آف آرډر ئے اووایئی جی۔۔۔ (قہقہ)

جناب همایون سیف اللّٰہ خان، نو ما له خو قرارداد راولیږئی کنه، څه بده خبرهخو نه ده جی، هغه Rule suspend کړئی او څه داسے خبره نه ده د حقوقو خبره ده۔

جناب سپیکر: دا قرارداد تاسو داخل کړے وو؟

جناب همایون سیف اللّٰہ خان، داخل کړے مے وو کنه جی۔

جناب سپیکر: واپس شوے وو هغه تاسو راشئی مونږ به ئے Reconsider کړو۔

جناب همایون سیف اللّٰہ خان، نه نه په دوه منټه کښې ئے پیش کوم۔

جناب سپیکر: Reconsider به ئے کړو، Reconsider به ئے کړو،

جناب همایون سیف اللّٰہ خان، څوک مخکښې نه شی کنه، هسے نه چه بیا را نه شی ۔۔(قہقہ)

# تحاریک التواء

